# کوچنی شاهزاده

## (کێسه)

ژیاڕن: محمد طاهر کانی

١٣٨١ ل.ل کال

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کوچنی شاهزاده

د لیکوال له انځورونو سره

لیکوال: انتوان دي سینت اېکزوپیري

ژباړن: محمد طاهر کاڼی

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لوی او ښښونکي خدای (ج) په نامه

# د کتاب پېژندنه


د کتاب نوم: کوچنی شاهزاده

لیکوال: انتوان دي سینت اېکزوپیري

ژباړن: محمد طاهر کانې

کمپیوټرچاري: افغان دوست

چاپشمېر: ۵۰۰ ټوکه

چاپکال: ۱۳۸۱ل/۲۰۰۲ ز کال

چاپځی: مسکو-روسیه

چاپوار: لومړی

خپروونکی: ژباړن


---

منته او یادونه: په روسیه کې د روښانفکري ملي دموکراتیک نهضت د انسجام له کومېټې څخه د زړه له کومي مننه کوم چې د دې کتاب د چاپ مالي لګښت يې کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

د هېواد هغو ټولو گلالیو ماشومانو ته چې د جگړې لامله یې د ټولو بې برخیو توپان ته غېږه ورکړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ژباړن یادښت

درنو لوستونکیو.

کوچنی شاهزاده د پرانسي لیکوال، شاعر او پیلوټ «انتوان دي سینت اېکزیوپیري» تر ټولو ډېر نامتو ښېیر دی. دا له آره یو استعاري او کنایه یي ناول دی، چې لومړی ځل د ۱۹۴۳زېږدي کال د اپرېل پر ۲ په نیویارک کې چاپ شوی وو. په ښېیر کې راغلي انځورونه پخپله لیکوال کښلي چې د دې کتاب په څېر یې اوڅارتیا په برخه شوې ده. ارزښتناکه خبره دا چې دا یوازې تش انځورونه نه دي، بلکې په ټوله کې د ښېیر اورګانیکي برخه جوړوي. په ښېیر کې پخپله لیکوال او د ښېیر اتلان (کرکټرونه ) د دغو انځورونو یادونه کوي او پر هغوی ان بحث کوي.

لیکوال «اېکزیوپیري» دا ناول هغه مهال ولیکه چې دی د امریکا متحدو ایالتونو په نیویارک کې اوسېده، له همدې لامله لومړی ځل په انګرېزي ژبه په امریکا کې چاپ شو. یوازې تر دویمې نړیوالې جګړې وروسته پر ۱۹۴۶ ز کال په پرانسه کې چاپ شو.

د ناول موضوع داسې ده چې یو پیلوټ د الوتکې د خرابۍ لامله دې ته اړوزي چې د اپریکا (افریقا ) د لویې صحرا په دښته کې الوتکه کښنوي، هلته له یو غیرعادي او عجیب انسان، کوچني هلک، کوچني شاهزاده سره مخامخېږي، چې له بل B-۶۱۲ شمېري ګرزنده ستورګي (استېرویډ ) څخه راغلی وي. کوچنی شاهزاده په ځمکه کې د هغو پېښو او ماجراوو په اړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کیسه کوي چې دی ورسره مخ شوی، د هغه هېښنده ګلاب په اړه، چې ده په خپل ګرزنده ستورګي کې پرې ایښی، په ستورګي کې د خپل ژوند په اړه، چې درې اورشنیدي غرونه او ګلاب پکې دي، په اړه بیان کوي. دی خپل وخت په خپل ستورګي کې د نظم په راوستلو، د «اډانسونیا ډیجیتاټا» ونو د کوچنیو تېغونو او نیالګیو، چې تل ډېرې رېښې ځغلوي او ټول ګرزنده ستوری نیسي، په خشاوه کولو تېروي. د کوچني شاهزاده د لمرلوېدل (غروب) سیل کول ډېر خوښېږي او په خپل ګرزنده ستوري کې دی کولای شي په ورځ کې یې څو ځلي ووینې. کوچنی شاهزاده یوه ورځ الوزي او غواړي چې د پیبنې (کایناتو) نور ځایونه وګوري، ویې پېژني او ویې څېړي. دی څو نورو ګرزنده ستورګیو ته د ورتګ پر مهال له ګڼ شمېر هېښنده لویانو سره مخامخېږي، لکه له پاچا سره، چې داسې ورته ښکاري، چې د ټولو ستوریو اداره په خپل لاس کې لري، له عزت غوښتونکي او شهرت غوښتونکي سره، چې غواړي شاوخوا ټول چاپېریال او خلک پر ده خوشاله شي او ده ته خوشالي څرګنده کړي، له نېشه یي سره، چې د دې لپاره څښل کوي چې خپل شرم او خجالت هېر کړي، له معامله ګر سره، چې تل ستوري شمېري او فکر کوي چې دی د ډېرې ستورو خاوند دی او غواړي نور ستوري هم رانیسي، له څراغ بلوونکي سره چې خپلې خبرې او ژمنې ته ژمن دی، هره دقیقه څراغ بلوي او بېرته یې مړ کوي، له جغرافیه پوه سره، چې د سیلانیانو او ګرزندویانو کیسې په کتاب کې لیکي، خو پخپله هېڅ مهال هېڅ لوري ته مساپرت نه کوي. د جغرافیه پوه په سلا کوچنی شاهزاده ځمکې ته ځي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

هلته سربېره پر هغه پیلوټ، چې الوتکه یې خرابه شوې، له نورو کرکټرونو سره مخامخېږي، له هغوی سره خبرې کوي او نورډېر مهم څیزونه پېژني.

په نښیر کې د کوچني شاهزاده څېره تر ډېره بریده اوتوبیوگرافیکي ده، مانا دا چې الهام یې لیکوال له خپل کوچنیتوبه اخیستی او داسې ښودل شوی چې دا کوچنیتوب د عمر په شمېر د لوی لیکوال او پیلوټ له شخصیت څخه جلا شوی دی. لیکوال د کوچني شاهزاده کرکټر په خپل ځان کې په مړه کېدونکي کوچني «تونیو» پسې له خپگانه اخیستی، هغه «تونیو» چې د نېستمن شوې نجیب زاده کورنۍ له کرړې څخه دی او په کورنۍ کې یې لومړی د زېړېخونو سرو وېښتانو په خاطر «د لمر پاچا» په نامه یاد کړی وو، خو په کالج کې یې د په خوب کې گرزېدونکي (ویده گرزېدونکي) نوم ورکړی، ځکه دا عادت یې درلود چې په ډېر ځنډ سره به یې په هسک کې ستورو ته کتل. پخپله د «کوچني شاهزاده» ژبنی ترکیب د لیکوال په «د انسانانو ځمکه» نښیر کې هم لیدل کیږي.

د خرخښه، هیجان راوستونکي او ژړوونکي گلاب نمونه هم ښه څرگنده ده. دا بې له شکه د لیکوال «اېکزیوپیري» مېرمن «کونسوېلو» وه چې له لاتیني امریکا څخه وه او ملگرو یې «د سلوادور کوچنی اورشیندی غر» نوم پرې اېښی وو.

په نښیر کې گیدړ د دوستۍ او ژمن ملگري د سېمبول په ډول ښودل شوی؛ گلاب د مینې د سېمبول په ډول. گیدړ کوچني شاهزاده ته ژمنه (وفاداري) ورزده کوي او دا ورزده کوي چې انسان د خپلو ټولو هغه چا په وړاندې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پازوال دی چې ده ته گران دي، ده ته نږدې دي او د پازوالۍ (مسوولیتي) احساس د نه هېرولو لوست ورکوي.

یوه بله خبره چې د یادولو وړ ده، هغه دا چې لیکوال د گیدړ غوږونه ډېر اوږده کښلي، دا له دې کبله چې ده د گیدړو د هغه ډول انځورنه کړې چې د اپریکا (افریقا) د شمالي سیمې د صحرا په لویه دښته کې اوسي، غوږونه یې ډېر اوږده او د (Fennec fox) په نامه یادیږي. اېکزیوپیري چې کله په مراکش کې پوځي دنده سرته رسوله نو همدا ډول یوه گیدړه یې روږدې کړې وه. په نښبیر کې دا ژوی د گیدړ یانې نرینه جنس په ډول، خو څو ځایه بیا د گیدړې په ډول راغلی چې زه یې هم په لامل نه یم پوه شوی، چې دا کومه تېروتنه ده او که په لوی لاس دا کار شوی.

په نړۍ کې د کوچني شاهزاده د نښبیر د چاپ په اړه باید وویل شي چې تر ۲۰۱۱ ز کاله دا نښبیر د نړۍ پر ۱۸۰ ژبو ژباړل شوی. په چین کې تر ۳۰ ځلي ډېر او په کوریا کې هم تر ۲۰ ځلي زیات چاپ شوی دی. پر ۲۰۱۱ ز کال په نړۍ کې د کوچني شاهزاده ټولیز چاپشمېر تر ۸۰ میلیونو ټوکو واوښت.

د دې نښبیر دا پښتو ژباړه پر ۱۳۸۱ ل (۲۰۰۲ ز) کال ترسره شوې او پر هماغه کال د روسیې په پلازمېنه مسکو کې چاپ شوی دی. لکه څنگه چې ما هغه مهال کمپیوټري اسانتیاوې نه درلودې، نو کمپوز یې د افغان دوست په نامه یو روسي استاد ترسره کړی وو او له ما سره یې کومه کاپي هم پاتې نه وه؛ له دې کبله یې دا بربښنایي بڼه ما له سره له هماغه چاپي ځېل څخه کمپوز کړه او ځینې ښویدنې چې هغه مهال په چاپ کې تېرې شوې وې، هغه مې هم د

(c) ketabton.com: The Digital Library

شونتیا تر برید‌ه ورسمې کړې. هغه مهال پرې ما کومه سریزه هم نه وه کښلې.
په دې سریزه کې له روسي او انګلیسي بربښنايي پوهنغونډونو څخه کار
اخیستل شوی دی. دا دی کوچنی شاهزاده د ټولو مینه والو لوست ته وړاندې
کیږي. خدای دې وکړي چې د ټولو لپاره په زړه پورې وي.

محمد طاهر کاښی

روسیه-وولګینسکي

د ۱۳۹۴ لمریز کال د مرغومي ۱۵

د ۲۰۱۲ زیږدي کال د جنوري ۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړی برخه

کله چې زه شپږکلن وم، د «رښتينو کيسو» په نامه کتاب کې، چې د هغو ځنګلونو په اړه پکې کيسې راغلې وې چې چا لا لاس نه وو ور وړی، ما يوه ورځ هېښنده انځور وليد. په انځور کې يو ډېر لوی مار (بوا ) وو چې يو داړونکی ژوی يې تېراوه، يانې چې خوړ يې. هغه انځور دا دی:



په دغه کتاب کې داسې راغلي وو: «مار خپل ښکار نه ژويي، همداسې بشپړ يې تېروي. تر دې وروسته مار نه شي کولای چې ځان وښوروي او شپږ مياشتې پرله پسې ويده وي، تر څو چې خواړه هضم کړي.»

ما د ځنګله د ژوند د ټولو پېښو په اړه ډېر فکر کاوه او ما هم په رنګه وچکښ (پېنسل) خپل لومړنی انځور وکيښ. دا زما لومړی شمېره انځور وو. هغه انځور دا دی:


(c) ketabton.com: The Digital Library



ما خپل انځور لویانو ته وښود او له هغوی نه مې وپوښتل چې زما انځور د دوی لپاره ډاروونکی نه دی؟

هغوی زما د پوښتنې په ځواب کې وویل چې ایا د شاپو خولۍ هم ډاروونکې وي؟ هغوی زما له خبرې سره مخالفت وښود.

دا خو له آره خولۍ نه وه. دا د بوا مار وو چې پیل یې تېر کړی وو او په خېټه کې یې پروت وو. بیا نو ما دغه لوی مار دننه خوا نه رسم کړ، د دې لپاره چې لویان پرې پوه شي. د هغوی لپاره اړینه ده چې هر څه ورته تشریح شي. نو دا زما دویمه شمېره انځور دی:



ماته لویانو دا سلا راکړه چې ماران رسم نه کړم، نه له دننه خوا نه او نه هم له د باندې خوا نه، جغرافیه، پېښلیک، حساب او لیکدود (املا) باید ډېر زده کړم. نو داسې پېښه شوه چې ما په شپږ کلنۍ کې د انځورګرۍ له ځلاند او ښه نامه څخه لاس واخیست. لکه څنګه چې زه په لومړۍ او دویمه شمېره انځورونو کې پاتې راغلم، نو مې پر خپل ځان باور له لاسه ورکړ. لویان هېڅ

(c) ketabton.com: The Digital Library

مهال پخپله په هېڅ نه پوهېږي، خو د کوچنیانو لپاره دا کار ډېر سټړی کوونکی دی چې تل هغوی ته هر څه تشریح کړي او هغوی پوه کړي.

په دې ډول زه دې ته اړ وتم چې بله څانګه غوره کړم، د پیلوټۍ زده کړه مې وکړه او پیلوټ شوم. ما نږدې د نړۍ ټولو سیمو ته الوتنې وکړې. که ربښتیا ووایم نو جغرافیه مې ډېره په کار شوه. ما له لومړي لیده کولای شوای چې چین ته له اریزونه توپیر ورکړم. که چیري سړی د شپې له خوا لار غلطه کړي، نو جغرافیه د سړي ډېره پکارېږي.

ما په خپل ټول عمر کې ډېر بېلابېل جدي خلک ولیدل او ورسره مخامخ شوم. ما ډېر وخت د لویانو په منځ کې ژوند کاوه. خو زه اعتراف کوم چې د هغوی په اړه ما کوم ښه فکر نه دی کړی.

کله چې ما لوی سړی لیده چې ماته به تر نورو پوه، هوښیار او ځیرک ښکاره شو، ما به هغه ته لومړۍ شمېره انځور ښکاره کاوه، ما خپل انځور ساتلی وو او تل به راسره وو. ما غوښتل پر دې پوه شم چې دا سړی په ربښتیا هم په څه شي پوهېږي او که نه. خو ټولو همدا ځواب راکاوه: «دا د شاپو خولۍ ده». نور نو ما له هغوی سره نه د بوا مارانو، نه د ګڼو ځنګلونو، او نه هم د ستورو په اړه خبرې کولې. ما هم د هغوی له خبرو او روحیې سره برابر سلوک کاوه. ما له هغوی سره د بریج او ګولف لوبو، د سیاست او نېکټایانو په اړه خبرې کولې او لویان ډېر خوشاله ول چې د سلیم عقل او فکر له داسې خاوند سره یې پېژندلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دویمه برخه

ما په دې ډول سره په یوازیتوب کې ژوند کاوه او داسې څوک نه وو چې د زړه خواله ورسره وکړم. شپږ کاله دمخه یوه ورځ زه دې ته اړوتم چې د لویې صحرا په دښته کې الوتکه کښنوم، ځکه چې زما د الوتکې په ماشین کې کوم شی مات شوی وو. له ما سره نه ماشین کار وو او نه هم سورلي، له دې سره سره چې دا کار ډېر ستونزمن هم دی، خو ما وپتېیله چې په خپله ځان وازمویم او د الوتکې ماشین پخپله جوړ کړم. ما خو یا باید ماشین ترمیم کړی وای او یا خو باید له تندې مړ شوی وای. له ما سره دومره اوبه وې چې ایله په ایله د یوې اوونۍ لپاره بس وې.

د لومړۍ شپې پر ماښام زه د دښتې پر شګه ویده شوم. دا دښته دومره لویه وه چې په زر میله شاوخوا سیمه کې هېڅ کوم کور نه وو. هغه سړی چې د سمندر په منځ کې یې بېړۍ ټکر شوې او ماته شوې وای هغه به داسې یوازې نه وای، لکه څومره چې زه په دې دښته کې یوازې وم. زما دا حیرانتیا مجسم کړئ او فکر ورته وکړئ چې ګهیځ په سپېده چاود کې زه د کوم چا نري غږ راویښ کړم. هغه وویل:

- مهرباني وکړئ... ماته وری رسم کړئ !
- آ؟..
- ماته خو یو وری رسم کړئ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه ژر له ځایه راپاڅېدم، لکه زما له پاسه چې تالنده شوې وي. سترګې مې ومو ښلې. شاوخوا مې وکتل. ګورم چې یو کوچنی ولاړ دی او په جدي ډول سره په ځیر ځیر راته ګوري. دا دی، دا د هغه تر ټولو ښه انځور دی، چې وروسته ما وکولای شوای ویې کاږم. خو زما په دې انځور کې دی دومره ښه او ښایسته نه دی راغلی. په اصل کې دی تر دې ډېر ښه او ښکلی وو. دا زما



ګونا نه ده، کله چې زه شپږکلن وم، نو لویانو به تل دا سې پوهولم چې له مانه انځورګر نه جوړېږي، نو ما هېڅ رسم کښل زده نه کړل، یوازې دومره مې زده کړل چې د لویو مارانو دننه او باندینۍ خواوې مې رسمولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما په ځير ځير سره د دغې غير عادي ښکارندې او پېښې تماشا کوله. دا مو هېر نه شي چې زه د خلکو له کورونو څخه زر ميله لرې وم. خو له دې سره سره داسې نه برېښېده چې دغه کوچني هلک دې لار غلطه کړې وي، يا دې سخت ډېر ستړی شوی او ډار شوی وي، او يا دې له لوږې او تندې نه بېخي د مړينې په حالت کې وي. د هغه له څېرې هېڅ داسې نه مالومېدل چې دغه ماشوم دې په داسې يوه لويه دښته کې ورک شوی وي، چې هلته هيڅوک نه اوسي. لنډه دا چې ما د خبرو کولو وس پيدا کړ او له هغه نه کې پوښتنه وکړه:

- ته دلته څه کوې؟

خو هغه له مانه يو ځل بيا په ټيټ غږ او په ډېر جدي ډول هيله وکړه:

- مهرباني وکړه... يو وری خو راته رسم کړه...

دا ټول څه داسې اسرار امېزه وو چې ما ونه شو کولای د هغه هيله او غوښتنه ونه منم. که څه هم په دغه ځای کې، په دغه دښته کې، چې د ژوند او مړينې ترمنځ پوله د يوه وېښته په شان نرۍ وه، دا کار بې مانا وو، خو ما بيا هم له جېبه يوه پاڼه کاغذ او خودرنګ قلم راوايستل. دلته راپه ياد شو چې ما خو له رسامۍ نه جغرافيه، پېښليک، حساب او ليکدود ډېر زده کړي دي، کوچني هلک ته مې وويل (لږ مې په تريو وچولي ورته وويل) چې زه رسامي نه شم کولای. هغه په ځواب کې وويل:

- بيا هم، وری راته رسم کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه څنګه چې ما په ژوند کې هېڅ مهال پسونه نه ول رسم کړي، نو ما د هغه لپاره له خپلو هغو دوو انځورونو څخه يو انځور وکيښ، چې ما له پخوا نه رسمولای شواى، ياني د بوا مار باندينی خوا مې رسم کړه.

زه ډېر حيران شوم، کله چې کوچني هلک په لوړ غږ سره دا سې وويل:

- نه، نه ! زه پيل د لوی مار په دننه کې رسم نه غواړم ! لوی مار ډېر

خطرناک دی او پيل زښت ډېر لوی دی. زما په کور کې ټول شيان ډېر کوچني دي. زما کوچنی ورى په کار دی. کوچنی ورى راته رسم کړه.

ما هم ورته رسم کړ.



هغه په ځير سره زما رسم ته وکتل او ويې ويل:

- نه، دا ورى ېښخي کمزورى دی. بل راته رسم کړه.

ما هم بل ورته رسم کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما نوی ملګری په نرمۍ او مهربانۍ سره موسکی شو او ویې ویل:

ته خو یې پخپله وینې چې دا وری نه دی. دا لوی مږ دی. هغه ښکرونه لري...

ما بیا ورته لږ بل ډول رسم کړ.




خو د ده دا انځور هم خوښ نه شو او ویې ویل:

- دا ډېر زوړ دی. زما داسې وری په کار دی چې اوږد ژوند وکړي.

دلته نو ما حوصله له لاسه ورکړه، ځکه چې ما ته اړینه وه چې د الوتکې ماشین ژر ترمیم کړم، زر زر مې داسې یو صندوق رسم کړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



او کوچني هلک ته مې وویل:

- دا دی، دغه صندوق دی. په هغه کې ستا وری ناست دی.

زما قاضي او جدي ملګری د اسې سره وغورېد چې زه یې ډېر هېښ کړم، او ویې ویل:

- دغسې، همدا زما په کار دی! ته څه فکر کوې چې دی به ډېر واښه خوري؟
- ولې، څنګه؟
- زه په خپل کور کې ډېر لږ څه لرم....
- د ده لپاره بس دي. زه تاته ډېر کوچنی وری درکوم.

هغه پر انځور باندې سر ټیټ کړ، انځور ته یې کتل او ویې ویل:

- دومره کوچنی خو هم نه دی... وګوره! زما وری ویده شو.

په دې ډول ما له کوچني شاهزاده سره وپېژندل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# درېیمه برخه

زه وروسته پوه شوم چې دی له کومې خوا نه راپیدا شوی دی. کوچني شاهزاده له مانه زښتې ډېرې پوښتنې کولې، خو کله چې ما له هغه نه د کوم شي په اړه پوښتنه کوله نو ده به ځان داسې وښود چې زما خبرې نه اوري. خو وروسته د ده له خبرو ماته هر څه ښرگند شول. کله چې هغه لومړی ځل زما الوتکه ولیده (الوتکه زه نه رسموم، ځکه چې نه یې شم رسمولای)، نو له ما یې وپوښتل:

- دا څه شی دی؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

ما په ځواب کې ورته وويل:

- دا الوتکه ده. دا زما الوتکه ده. هغه الوزي.

ما په وياړ سره ورته تشريح کړه چې زه کولای شم په هغه کې الوتنه وکړم. کوچني هلک په لوړ غږ وويل:

دا څنګه ! ته له هسکه رالوېدلی يې؟

ما په خاکسارۍ سره په ځواب کې ورته وويل:

- هو.

ده په خوشالۍ سره وويل:

- جالبه ده !..

کوچنی شاهزاده په لوړ غږ په خندا شو ، داسې يې وخندل چې ماته افسوس راغی: زه غواړم چې زما کارونه خلک جدي وګڼي. وروسته يې زياته کړه:

- ياني چې ته هم د هسک له لوري راپيدا شوی يې. له کوم ستوري نه

يې؟

ما له ځان سره فکر وکړ: «دا دی، په دې دښته کې د ده د راپيدا کېدو په معما اوس پوه شوم !» نو بيا مې هغه ته سم برالا ځواب ورکړ:

- مالومېږي چې ته له بل ستوري نه دلته راغلی يې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو هغه ځواب را نه کړ. په ارامۍ یې سر وښوراوه او زما الوتکه یې کتله:

- په دې کې خو ته نه شې کولای چې له لرې ځای نه پکې الوتنه وکړې...

د کوم ځیز په اړه تر ډېره ځنډه په چورت کې شو. وروسته یې له جیبه وری راوایست او د دغې قیمتي خزانې په تماشه کې ډوب شو.

تاسې یې تصور کړئ چې د «نورو ګرزنده ستورو» د هېښنده نیمې پېژندنې په اړه زما تلوسه نوره هم ډېره شوه. ما هڅه وکړه چې په نور څه باندې ځان پوه کړم:



(c) ketabton.com: The Digital Library

کوچنیه، ته له کومه ځایه راالوتی یې؟ ستا کور چېرته دی؟ ته چیرته غواړې چې دا وری یوسې؟

دی په چورت کې وو او هېڅ یې ونه ویل، خو وروسته یې بیا وویل:

- ډېر ښه شو چې ماته دې صندوق راکړ: وری به د شپې له خوا پکې ویده کیږي.
- نو خود ، زه به پړی درکړم د ورځې له خوا به وری په دغه پړي تړې.

کوچني شاهزاده تندی تریو کړ او بړوس شو:

- تړل؟ د څه لپاره؟
- نو خو که چیري ونه تړل شي، کومې خواته ځي او ورک کیږي.
- دلته زما ملګری بیا له خوشالۍ سره په خندا شو:
- نو چیري به ولاړ شي؟

ولې شاوخوا لارې کمې دی؟ ځي به، ځي به، هغه لور ته به ولاړ شي، تر څو چې لیدل کیږي او څومره چې یې سترګې لاره ویني.

تر دې وروسته کوچني شاهزاده په جدي ډول وویل:

- پروا نه کوي، هلته ځای ډېر لږ دی.

بیا یې له خپګان سره زیاته کړه:

- که چیري ولاړ شي، ولاړ شي، همدا سې مخامخ پسې ولاړ شي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو لري نه شي تلای...

# ځلورمه برخه

په دې ډول ما يو بل مهم کشف وکړ: هغه دا چې د ده پلرنی گرزنده ستوری (سیاره) د یوه کور په اندازه لوی دی!


لنډه دا چې دې زه دومره هېښ نه کړم. زه په دې پوهېدم چې پرته له داسې لويو گرزنده ستوريو لکه ځمکه، مريخ، زهره او مشتري، په سلگونو نور داسې گرزنده ستوري شته چې نومونه نه لري او د دوی له شمېر څخه دومره کوچني ستوري (ستورگي) هم شته چې په تلسکوپ کې هم په سختۍ سره ليدل کيږي. کله چې ستورپوه داسې کوم ستوری کشف کړي، نو دی هغه ته کوم نوم نه ورکوي، عادي يوه شمېره ورکوي. د ساري په توگه **۳۲۵۱** شمېره گرزنده ستورگی (استېرويډ).



(c) ketabton.com: The Digital Library

زه په کره ډول دا اټکل کولای شم چې کوچنی شاهزاده له هغه گرزنده ستورگي څخه راالوتلی چې د «B-۶۱۲» ستورگي په نامه یادیږي. دا گرزنده ستورگی یوازې یو ځل یوه تورکي ستورپوه پر ۱۹۰۹ زېږدي کال په تلسکوپ کې لیدلی وو.


هغه مهال تورکي ستورپوه د خپل دې په زړه پورې او ډېر ښه کشف په اړه خپل رپوټ د ستورپوهنې نړیوال کانگرس ته وړاندې کړ. خو هیچا د ده پر خبرو باور ونه کړ، ځکه چې ده تورکي کالي اغوستي ول. لویان خو داسې خلک دي !



له ښه مرغه د B-۶۱۲ گرزنده ستورگي د ښه نامه او شهرت په خاطر د تورکیې واکمن خپلو وگړیو ته سپارښتنه وکړه چې اروپایي کالي واغوندي.

پر ۱۹۲۰ زېږدي کال هغه ستورپوه یو ځل بیا د خپل کشف په اړه رپوټ ورکړ. دا ځل هغه په نوي موډ برابر کالي اغوستي ول او ټولو خلکو له هغه سره هوکړه وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما د B-۶۱۲ گرزنده ستورگي په اړه دومره مفصل تشرېحات او د هغه د شمېرې يادول يوازې د لويانو په خاطر وکړل. لويان ارقام ډېر خوښوي. کله چې هغوی ته کيسه کوې چې ستا نوی ملگری پيدا شوی، نو هغوی د مهم څيز په اړه هيڅ پوښتنه نه کوي. هغوی هېڅ مهال دا خبره نه کوي چې: «د هغه غږ څه ډول دی؟ کومې لوبې يې خوښېږي؟ پتنگان نيسي که نه؟» هغوی دا پوښتنې کوي چې: «هغه څو کلن دی؟ څو ورونه لري؟ د هغه تول (وزن) څومره دی؟ پلار يې څومره پيسې گټي؟» تر دې وروسته دا فکر کوي چې سړی خو يې وپېژاند. کله چې لويانو ته وايې چې: «ما له گلابي خښتو نه جوړ شوی ښکلی کور وليد چې په کړکيو کې يې د جريبن گلونه ول او د بام پر سر يې کوترې ناستې وې»، هغوی هېڅ نه شي کولای چې دا کور تصور کړي. هغوی ته بايد داسې وويل شي چې: «ما يو کور وليد چې بيه يې سل زره فرانکه وه.»، هغه مهال نو بيا دوی په لوړ غږ سره وايي چې: «څومره ښکلی !».

په همدې ډول که هغوی ته ووايې چې: «دا ثبوت شوې چې کوچني شاهزاده په واقعيت کې شتون درلود. هغه ډېر ښه او گلالی هلک وو، هغه به خندل او

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوښتل يې چې يو ورى ولري. هغه څوک چې ورى غواړي هغه به له شکه چې شتون لري.» که چيري هغوى ته داسې ووايې، نو خپلې اوږې پورته وغورځوي او تاته داسې وګوري لکه يو ناځيرک تې خوري ماشوم ته. خو که چيرى هغوى ته ووايې چې: «هغه (کوچنى شاهزاده) له هغه ګرزنده ستوري څخه راالوتلى او راغلى چې B-۶۱۲ ګرزنده ستورګى نوميږي»، نو دا هغوى باوري کوي او په ډېرو پوښتنو باندې مو نه ځوروي. لويان خو داسې خلک دي. له هغوى نه خپه کېدل کوم ارزښت نه لري. ماشومان بايد د لويانو په وړاندې ډېر زړه سواند او مهربان وي. خو موږ هغه څوک يو چې په دې پوهېږي چې ژوند څه شى دى. موږ په شمېرو او ارقامو پورې خاندو. ما به د زړه له تله پر دې ناول پيل کړى واى، لکه يو په زړه پورې او جادوګر نکل. زه غواړم داسې يې پيل کړم:

«وو نه وو، يو کوچنى شاهزاده وو. هغه په داسې يو ګرزنده ستوري کې ژوند کاوه چې پخپله تر ده لږ لوى وو، او ده ډېره هيله لرله چې ملګرى ولري...» هغه څوک چې پوهيږي ژوند څه شى دى، هغوى به سملاسي دا ووينې چې دا رښتيا ته ډېر ورته او نږدې دى.

ځکه، زه نه غواړم چې زما کتاب يوازې څوک د ساتېرۍ په خاطر ولولي. کله چې زه خپل کوچنى ملګرى را په ياد کړم، زړه مې سخت درد وکړي، او د هغه په اړه خبرې کول زما لپاره ډېر ستونزمن کار وي. دا دى شپږ کاله وشو چې زما ملګري او د هغه وري زه پرې ايښى يم، او زه هڅه کوم د دې لپاره د هغه په اړه کيسه وکړم چې هغه هېر نه کړم. د ملګرو هېرول ډېره يوه غمجنه خبره

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده. هر څوک خو ملګری نه لري. زه ډېر ډارېږم چې داسې نه شم لکه لویان، ځکه چې د هغوی لپاره له ارقامو پرته بل هېڅ شی په زړه پورې نه دی او په همدې خاطر ما یو صندوق رنګونه او رنګه وچکښونه (پېنسلونه) رانیول. زما په عمر د رسامۍ کار بیا پیلول داسې اسانه کار نه دی، ځکه چې ما په خپل ټول ژوند کې د لوی مار دننه او باندینۍ خواوې رسم کړې، او هغه هم هغه مهال چې شپږ کلن وم ! ښکاره خبره ده، زه هڅه کوم چې زما رسم اصلي مار ته ډېر ورته وي. خو زه دومره ډاډه نه یم چې زه به دا کار ښه وکړای شم. یو لوی انځور (پورترېټ) ښه راشي، خو بل لوی انځور بیا له اصلي سړي سره هېڅ ورته والی نه لري. د هغوی ونه (قد) هم سمه نه شم رسمولای: په یوه انځور کې شاهزاده ډېر لوی او جګ وي، خو په بل کې بیا ډېر کوچنی وي. زما اوس ښه په یاد نه دي چې د هغه کالیو کوم رنګ درلود؟ زه به یې وازمویم او د اټکل له مخې به یې یو ډول او بل ډول رسم کړم، تېروتنې مې وبښئ. اخر خو زه هم کېدای شي چې په ځینو مهمو تفصیلاتو کې تېروتنې وکړم. تاسې سزا مه راکوئ. زما ملګري ماته هېڅ مهال هیڅ شی نه راښوول او نه یې راته تشرېح کول. ښایي هغه به داسې فکر کاوه چې زه همدغسې یم لکه دی. خو په خواشینۍ سره چې زه نه شم کولای چې په بند او تړل شوي صندوق کې وری له باندې خوا نه ووینم. ښایي چې زه به لږ لږ لویانو ته ورته یم. داسې ښکاري چې زه زړېږم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پینځمه برخه

زه هره ورځ د هغه د گرزنده ستوري په اړه له کوم نوي شي څخه خبرېدم، په دې اړه چې هغه څنگه خپل گرزنده ستورى پرې ښود او څنگه یې سفرونه کول. هغه به په دې اړه لږ لږ کیسه کوله. پر درېیمه ورځ زه د «باوباب» (اډانسونیا ډیجیټاټا ) د ونو له غمیزې خبر شوم.

دا هم د وري له لاسه وشوه. داسې وبرېښېده چې کوچني شاهزاده ته سخت خپه کوونکی شک ورولوېد او ویې پوښتل:

- دا رښتیا ده چې وري بوټې خوري؟
- هو، رښتیا ده.
- څومره ښه!

زه پوه نه شوم چې دا خبره ولې دومره مهمه ده چې وري بوټي خوري. خو کوچني شاهزاده زیاته کړه:

- یانې دا چې دوی باوبابي هم خوري؟

ما ورته وویل چې نه، باوبابي بوټي نه دي، هغوی لویې ونې دي او ډېرې لوړې دي، که چیري یوه گله پیلان هم ورته راولې نو د باوبابي یوه ونه هم بشپړه نه شي خوړلای.

کوچني شاهزاده چې د پیلانو خبره واورېده نو په خندا شو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- دې ته به اړوتې وای چې پیلان یو د بل پر سر ودرول شي...



وروسته یې په هوښیارۍ سره وویل:

- د «اډانسونیا ډیجیتاټا» ونې لومړۍ ډېرې کوچنۍ وې.
- دا خبره سمه ده، نو ستا ورۍ کوچنۍ «اډانسونیا ډیجیتاټا» څه

کوي چې خوري یې؟

ده په لوړ غږ وویل:

- څنګه یې څه کوي! دا سې ښکارېده لکه د ډېرو عادي شیانو په اړه

چې خبرې کیږي. زه دې ته اړوتم چې ژور فکر پر وکړم او پر دې ځان پوه کړم

چې موضوع د څه شي په اړه ده. تر څو چې پرې پوهېدم سر مې ښه دروند شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کوچني شاهزاده په گرزنده ستوري کې لکه په بل هر ستوري کې گټور او زیان رسوونکي واښه شنه کیږي. دا په دې مانا چې هلته د ښو او گټورو واښو ښه توخمونه او د خوشي واښو بد توخمونه شته دي. خو دغه دانې یا توخمونه نه لیدل کیږي. ځکه هغوی تر ځمکې لاندې لکه ویده چې وي، هماغلته پراته وي. خو کله چې کومه دانه راویښه شي بیا نو هغه تېغ وهي، ورو ورو دا تېغ خلاصیږي او د لمر لور ته لویږي، لومړی ډېر په زړه پورې او بې زیانه وي. که چیري دا د سرې مولۍ او یا گلابو بوټی وي، نو پرېږده چې لوی شي. خو که چیري کوم خوشی واښه وي نو چې څنگه دې وپېژاند باید سملاسي له ریښو نه له بېخه وایستل شي. د کوچني شاهزاده په گرزنده ستوري کې ډېر بد او زیان رسوونکي توخمونه شته... دا د «اډانسونیا ډیجیټاټا» توخم دی. د گرزنده ستوري ټوله خاوره له دغه توخمه ډکه ده. که چیري د «اډانسونیا ډیجیټاټا» نیالگی پر خپل مهال ونه پېژندل شي او چاره یې ونه شي، نو وروسته بیا ترې سړی نه شي خلاصېدای. ځکه چې ټول گرزنده ستوری نیسي. دا ونه بیا خپلې ریښې د گرزنده ستوري په ټولو ځایونو کې ځغلوي. که چیري ستوری ډېر کوچنی وي او د «اډانسونیا ډیجیټاټا» ونې ډېرې وي، نو ستوری ټوټې ټوټې کوي.

وروسته کوچني شاهزاده ماته داسې وویل: داسې یوه تلپاتې قاعده شته، کله چې گهیځ سړی له خوبه راویښ شي نو مخ او لاس باید پرې مینځي، خپل ځان باید سم او پاک کړي، سملاسي خپل گرزنده ستوری هم منظم جوړ کړي. کله چې د گلابو له بوټي څخه توپیر ورکړ شو، نو د «اډانسونیا ډیجیټاټا» نیالگي باید سملاسي له گلابو جلا کړای شي، هره ورځ له ستوري څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

خشاوه شي او لرې کړای شي. دوی چې نوی تېغ ووهي نو د ګلابو له تېغونو سره نږدې یو شان وي. نو ځکه خو باید سړی ډېر پام ورته ولري. دا ډېر زړه تنګوونکی کار دی، خو ډېر اسان دی.



یوه ورځ هغه ماته داسې سلا راکړه چې زه هڅه وکړم او داسې یو انځور وکاږم چې زموږ ماشومان پرې پوه شي. ده وویل:

- که چیري هغوی کوم مهال پر سفر ولاړ شي، نو دا به د هغوی په کار

شي. نور کار کېدای شي چې سړی یې د یو څه مهال لپاره پرېږدي، کوم زیان نه اړوي. خو که چیري «اډانسونیا ډیجیټاټا» ته وخت ورکړ شي چې لوی شي، نو له مصیبته به یې سړی ځان خلاص نه شي کړای. ما داسې یو ګرزند ستوری

(c) ketabton.com: The Digital Library

پېژاند چې په هغه کې يو لټ ژوند کاوه. هغه پر خپل مهال درې بوټي خشاوه نه کړل او پرې يې ښوول...



کوچني شاهزاده په مفصل ډول ماته بيان وکړ او ما هم دا ستوری رسم کړ. اوس نه شم کولای چې خلکو ته نصيحت وکړم. خو ډېر لږ خلک پر دې پوهيږي چې «اډانسونيا ډيجيتاټا» څومره خطر لري او هر هغه څوک چې گرزنده ستورگي (استېيرويډ ) ته ورپېښ شي هغه له دغسې خطر سره مخامخېږي. دا ځل زه غواړم خپل ارام حالت بدل کړم. زه وايم:

- ماشومانو ! له «اډانسونيا ډيجيتاټا» نه ځانونه وساتئ !

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه غواړم خپلو ملګريو ته د هغه خطر په اړه خبر ورکړم چې له پخوا نه دوی ته متوجه دی او هغوی يې لا په اړه هېڅ ګومان او اټکل هم نه شي کولای، لکه پخوا چې يې ما اټکل نه شوای کولای او خبر هم ترې نه وم. ځکه خو ما پر دغه انځور باندې دومره زيار وايست. زه په خپل دغه زيار او زحمت باندې پښېمانه نه يم او افسوس يې نه کوم. ښايي تاسې وپوښتئ چې زما په کتابګوټي کې ولې نور داسې اغېزمن او مهم انځورونه نشته، لکه دا د «اډانسونيا ډيجيټاټا» انځور چې دی؟ ځواب يې ډېر اسان دی: ما ډېر کوښښ وکړ خو هېڅ هم ترې جوړ نه شول. خو کله چې ما «اډانسونيا ډيجيټاټا» انځورول نو ماته دې شعور الهام راکاوه چې دا کار ډېر ارزښتمن او بېړنی دی.

# شپږمه برخه

اوو کوچنی شاهزاده! زه ورو ورو پر دې هم پوه شوم چې ستا ژوند څومره زړه تنګوونکی، يورنګه او يو نواخت دی. ډېر مهال تا يوازې يوه ساتېري او مشغولتيا درلوده: يانې چې په خوښۍ سره دې د لمرلوېدو (غروب) سيل کاوه. زه پر دې د څلورمې ورځې پر سهار پوه شوم او خبر شوم، هغه وخت چې تا وويل:

- زما لمر لوېده ډېر خوښېږي. راځه چې ويې ګورو چې لمر څنګه لوېږي.
- خو بايد انتظار وباسو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د څه شي په خاطر منتظر شو؟
- د دې لپاره چې لمر ښکته شي او لوېدو ته نږدې شي.

لومړی ته ډېر هېښ شوې او بيا دې په ځان پورې وخندل او ودې ويل:

- ماته داسې ښکاري چې زه په خپل کور کې يم!



په رښتيا هم همداسې ده. ټول پوهېږي کله چې په امريکا کې ماسپښين وي، په پرانسه کې لمر لوېږي. که چيري سړي کولای شوای چې په يوه دقيقه کې پرانسې ته ورسيږي، نو له لمرلوېدو څخه به يې خوند اخيستی وای. په خواشينۍ سره چې تر پرانسې لاره ډېره اوږده. خو تا په خپل گرزنده ستوري کې په خوښۍ سره کولای شوای چې څوکۍ يوڅو گامه مخکې کړې. تا بيا بيا کولای شوای چې د لمر لوېدو سيل وکړې...

يوه ورځ ما د يوې ورځې په بهير کې درې څلوېښت ځلي لمرلوېده وليدل!

(c) ketabton.com: The Digital Library

لږ وروسته تا زياته کړه:

- ته پوهېږې... کله چې سړی زړه تنګی شي نو ډېر ښه وي چې لمر لوېده وګوري...
- پر هغه ورځ چې تا درې څلوېښت ځلي د لمر لوېدل وليدل، ته ډېر زړه

تنګی شوی وې؟

خو کوچني شاهزاده ځواب را نه کړ.

# اوومه برخه

پر پېنځمه ورځ زه بيا هم د وري له برکته د کوچني شاهزاده په راز پوه شوم. هغه تر ډېر فکر او چورت وهلو وروسته پرته له کومو لومړنيو خبرو دې پايلې ته راغی او ناڅاپه يې وويل:

- دا چې وری بوټي خوري، نو ګلان هم خوري؟
- دی ټول هغه څه خوري چې مخې ته يې ورځي.
- دا سې ګلونه هم خوري چې اغزي ولري؟
- هو ، هغه ګلونه چې اغزي ولري هغه هم خوري.
- بيا نو اغزي څه ضرور دي؟

په دې باندې زه نه پوهېدم. زه ډېر بوخت وم: په ماشين کې يو بولټ سست شوی وو او ما هڅه کوله چې هغه سم کړم. زما حالت ښه نه وو. حالت نور هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

پسې جدي کېده، او به ښخي لږ پاتې وې، زه وډار شوم چې زما له مجبوريته ناستې پايله به ډېره خرابه او بده وي.

کوچني شاهزاده خپله پوښتنه بيا تکرار کړه:

- اغزي څه ضرور دي؟

ده له خپلې پوښتنې تر هغو لاس وا نه خيست تر څو چې يې ځواب وانه وربده. کلک او سخت بولټ زما حوصله ختمه کړه او ما هم بې له کومه سنجشه په ځواب کې ورته وويل:

- اغزي هېڅ ضرور نه دي، هغوی هسې د ګلانو له غوسې راشنه

کيږي.

- ښه، په دې خاطر !

چوپه چوپتيا شوه. وروسته هغه په تريو وچولي سره وويل:

- زه ستا په خبرو باور نه لرم ! ګلان کمزوري او سپېڅلي دي. هغوی

هڅه کوي چې ځانونه زړور کړي. هغوی داسې فکر کوي چې که چيري اغزي ولري نو هر څوک به ترې ډاريږي...

ما ځواب ور نه کړ. په دغه شېبه کې ما له ځان سره داسې وويل: «که چيري دا بولټ سم نه شي، نو زه به يې په څټک داسې ووهم چې ښخي ټوټې ټوټې شي.» کوچني شاهزاده بيا زما د خيال لړۍ راپرې کړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ته فکر کوې چې ګلان....
- نه، نه زه ! زه هېڅ فکر نه کوم ! ما تاته په ځواب کې هغه څه وویل

څه چې په فکر کې هوايي راتېر شول. ته خو ما وینې چې زه پر جدي کار بوخت یم.

هغه په حیرانتیا سره ماته وکتل او ویې ویل:

- پر جدي کار؟ !

هغه همداسې ماته کتل: زه ټول په ګریسو چټل، ځټک په لاس کې او په یو شي پسې کړوپ شوم چې ما ونه پېژاند او ده ته ډېر بدرنګه ښکارېده.

په دې وخت کې هغه وویل: ته داسې خبرې کوې لکه لویان چې یې کوي !

زه وشرمېدم، خو هغه په بې رحمۍ سره زیاته کړه:

ته هر څه سره غلطوې...په هېڅ شي نه پوهېږې !


هو، زه پوه شوم چې دا ټوکه نه وه، دی خپه شو. سر یې ځنډ واهه او طلایي ویښتان یې باد ګډوډ کړل.

- ماته یو ګرزنده ستوری مالوم دی، هلته یو داسې ښاغلی ژوند کوي

چې سوربخون غوندې مخ لري. هغه په خپل ټول ژوند کې یو ځل هم ګل نه دی بوی کړی. یو ځل یې هم ستوري ته نه دي کتلي. پر هغه باندې هېڅ مهال هېڅوک او هیڅ شی ګران نه وو، او هېڅ وخت یې هېڅ هم نه دي کړي. هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوازې پر يوه شي بوخت دی: ارقام سره يو ځای کوي او جوړوي يې، او له
ګهيځه تر ماښامه يوازې پر همدې يوه خبره ټينګار کوي چې: «زه جدي سړی
يم ! زه جدي سړی يم !» سم دم لکه ستا په شان. يو ځل له غروره سره وپړسېږي.
خو په اصل کې هغه انسان نه دی، مرخېړی دی.



- څه شی؟
- مرخېړی !

کوچنی شاهزاده له غوسې نه ان زېړ شو.

ميليونونه کاله کيږي چې ګلونه له اغزيو سره شنه کيږي، او ميليونونه کاله
کيږي چې وري بيا هم ګلان خوري. نو ايا دا جدي خبره نه ده سړی پرې پوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

شي، دا چې اغزي هېڅ کومه گټه نه لري، بيا نو گلونه ولې په خپل ټول ځواک سره کوښښ کوي چې اغزي يې راشنه شي؟ ايا دا مهمه نه ده چې وري او اغزي په خپل منځ کې جگړه کوي؟ ايا دا د هغه پنډ ښاغلي، چې سوربخون غوندي مخ لري، د حساب تر پوهنې جدي او مهمه نه ده؟ که چيري په نړۍ کې هغه يوازيني گل ته، چې ماته مالوم دی او يوازې زما په گرزنده ستوري کې شين کيږي، کومه ورځ کوچنی وری ورشي او دا گل وخوري، دی به پر دې خبر هم نه وي چې دا يې څه وکړه؟ ته فکر کوې چې دا ټول څه مهم نه دي؟

هغه تک سور شو. وروسته يې بيا پر خبرو پيل وکړ:

- که چيري هغه گل تاته گران وي چې يوازينی دی، او له ميليونونو

ستوريو نه په بل هېڅ يو ستوري کې نشته، همدومره بس ده: هسک ته به گورې، ته به نېکمرغه يې او خپل ځان ته به داسې وايې: «هاغلته په يو ځای کې زما گل اوسېږي...» نو که چيري وری هغه وخوري، دا به داسې وي لکه ټول ستوري چې يو ځل مړه شي او ځلا يې ورکه شي ! ستا له ليده دا مهمه نه ده؟

هغه نور نه شو کولای چې خبرې وکړي. ناڅاپه سرټ سرټ په چيغو په ژړا شو. تياره هم شوه. ما کار ژر پرې ښود ، زما د بدمرغه بولټ په اړه فکر کول هم له ياده ووتل. تنده او مړينه مې هم له ياده ووتل. په گرزنده ستوري کې، زما په گرزنده ستوري کې چې ځمکه نومېږي، کوچني شاهزاده ژړل او اړينه وه چې هغه کرار کړم. ما هغه په غېږ کې ونيو او للو للو کاوه مې. ما ورته وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- هغه گل چې پر تا ډېر گران دی هغه ته هېڅ خطر متوجه نه دی...زه به

ستا وري ته کټپوز رسم کړم...ستا د گل لپاره به د ساتنې ځای رسم کړم...زه...

زه نه پوهېدم چې هغه ته نور څه ووایم. ما خپل ځان ډېر شرمینده او پړ احساساوه. نه پوهېدم چې هغه ته څنگه ورغبرګ کړم، چې زما غږ واوري، د هغه په اروا او زړه پسې، چې له ما روان وو، څنگه ځان ورسوم...د اوښکو هېواد څومره مرموز، نالیدلی او نامالوم دی.

# اتمه برخه

ما دا گل پر راتلونکي لنډ مهال ډېر ښه وپېژاند. د کوچني شاهزاده په گرزنده ستوري کې تل عادي، ښه او متواضع گلان شنه کېدل. هغوی لږې گلپاڼې درلودې، ډېر لږ ځای یې نیوه او چاته یې تکلیف نه ورکاوه. هغوی گهیځ په واښو کې غوړېدل، خو ماښام مړاوي کېدل. کومه ورځ یوه دانه له کوم نامالوم لوري نه راوړل شوې وه، هغه دانه دلته راشنه شوې او دا کوچنی بوټی له هماغې دانې نه رالوی شوی دی. کوچني شاهزاده دغه کوچني نازک بوټي ته همداسې کتل. دا ووړ نازک بوټی نورو ووړو نازکو بوټیو ته ورته نه وو. که چیري دا د زیان رسوونکو «اډانسونیا ډیجیټاټا» ونو کوم نوی ډول وي بیا؟ خو کوچنی بوټی نور لوی نه شو او ناڅاپه یې غوټۍ وکړې. کوچني شاهزاده تر دې مهاله بل هېڅ ځای دومره لویې غوټۍ نه وې لیدلې، او مخکې له مخکې یې دا احساس کړې وه چې داسې معجزه به ووینې. خو دا ناڅرگند مېلمه، چې په خپله کوچنۍ زرغونه کوټه کې لا پټ وو، نور هم ښه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېده او لا ښایسته کېده. هغه په خپل ځان کې ورو ورو نور رنګونه راپیدا کړل. دی بې له ببړې نور هم ښکلی کېده، او یو پر بلې پسې یې ګلپاڼې راښکاره کېدې. هغه نه غوښتل چې د کوکنارو د ګل په څېر څنډل شوی او ښورول شوی دې نړۍ ته راشي. هغه غوښتل چې د خپلې ښکلا په ټوله ځلا کې ځان راڅرګند کړي. هو، دا یو ډېر لوی مکېزګر او کرشمه ګر وو ! د هغه دا پټ چمتووالی له یوې نه بلې ورځې ته تېرېده او دوام یې کاوه. هغه وو چې یوه ورځ ګهیځ، چې لمر نوی په راختو وو، د هغه ګلپاڼې وغوړېدې.



دا ډېر ښایسته ګل، چې دغې شېبې ته د چمتووالي په خاطر یې ډېر زیار او زحمت ایستلی وو، د اروېمي ایستلو پر مهال وویل:

- اه، زه ډېر په زحمت او سختۍ سره راویښ شوم... هیله کوم چې ما

(c) ketabton.com: The Digital Library

وبښئ...زه تر اوسه لا سم نه یم...

کوچني شاهزاه نور نه شو کولای چې خپله ډېره خوشالي په خپل ځان کې تم کړي:

- تاسو ډېر ښایسته او په زړه پورې یاست!
- ښه، رښتیا وایې؟ ځواب ارام وو. وګورئ زه له لمر سره یو ځای

وزېږېدم.

کوچنی شاهزاده پوه شو چې دا هېښنده مېلمه متواضع او خاکسار نه دی، خو هغه دومره ډېر ښکلی وو چې د سړي زړه ورته باغ باغ کېده!

خو هغه پر لنډ مهال پوه شو او ویې ویل:

- داسې ښکاري چې د سباناري وخت دی. خیر یو سئ، زما غم هم

وخورئ...

کوچنی شاهزاده شرمینده او سربداله غوندې شو، اوبه شیندونکی یې راپیدا کړ او ګل ته یې د چینې اوبه ورکړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر راتلونکي لنډمهال مالومه شوه چې دا ډېر ښایسته گل ډېر مغرور دی، ډېر زر خوابدی کیږي، او کوچنی شاهزاده ورسره ډېر ستړی او ستومانه شوی دی. دې گلاب څلور اغزي لرل او یوه ورځ یې کوچني شاهزاده ته وویل:

- پریږده چې پړانگان راشي، زه یې له منگولو او نوکانو نه ډاریږم !

خو کوچني شاهزاده ورته وویل:

- زما په گرزنده ستوري کې پړانگان نه اوسي. بله خبره دا چې پړانگان واښه نه خوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګل په ټيټ غږ وويل:

- زه وا ښه نه يم.
- ما وبښئ...
- نه، زه له پړانګانو څخه نه ډار ېږم، زه له باده ډېر ډار ېږم. تاسو پرده نه لرئ؟

کوچني شاهزاده له ځان سره فکر وکړ: عجيبه ده، وا ښه دی خو له باده ډار ېږي. دا ګل څومره بد خوی لري.

- چې ما ښام شو نو ما په کوم سرپوښ باندې پټ کړئ. دلته ستاسو

په ځای کې ډېر ساړه دي. دا ډېر ناهوسا ګرزنده ستوری دی. هلته له کومه ځايه چې زه راغلی يم...

ده خپلې خبرې تر پايه ونه کړې. ځکه چې دی دلته هغه مهال راورل شوی، کله چې لا د تو خم دانه وه. ده نه شو کولای چې له نورو نړيو خبر وي. دا چې ستا

(c) ketabton.com: The Digital Library

دروا غ په اسانۍ سره ثابت شي او بیا سړی درواغ ووایي، دا خو بې عقلي ده ! ښایسته گل وشرمېد ، بیا یې دوه ځلي وټوخل، د دې لپاره چې کوچنی شاهزاده دا احساس کړي چې هغه دده (گل) په وړاندې پړ دی.



- پرده چیرته ده؟
- ما غوښتل چې پسې ولاړ شم، خو ما نه شو کولای چې ستا خبرې ټولې وا نه ورم !

بیا نو گلاب نور هم سخت وټوخېد: پرېږده چې هغه د خپل وجدان په وړاندې شرمینده شي !

که څه هم دا ډېر ښایسته گل پر کوچني شاهزاده ډېر گران شو او په دې خوشاله وو چې د هغه خدمت یې کاوه، خو پر راتلونکي لنډ مهال له هغه سره شک راپیدا شو. تشې خبرې یې په جدي ډول په زړه کې منلې او ځان یې ډېر کمبخته احساس کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه یوه ورځ ماته په باوري ډول وويل: ما د هغه خبرو ته عبث غوږ نیولی وو او منلي مې. سړی باید د ګلانو خبرو ته هېڅ غوږ ونه نیسي. همدومره بس ده چې سړی هغوی ته ګوري او د هغوی خوږبويي تنفس کوي. زما ګل خپله خوږبويي زما په ټول ګرزنده ستوري کې خپره کړه او زه ورته د خوشالۍ ځرګندولو په چل نه پوهېدم. دا د منګولو او پړانګانو په اړه خبرې...دې خبرو باید پر ما اغېز ښندلی وای، خو زه په غوسه شوم...

هغه دا اعتراف هم وکړ:

- زه هغه مهال په هېڅ شي نه پوهېدم ! اړینه وه چې د خبرو له مخې

نه، بلکې د کار او عمل له مخې قضاوت شوی وای. هغه ماته خپله خوږبويي راکوله، زما پر ژوند یې د خوښۍ رڼا خپروله. زه باید تښتېدلی نه وای. ددغو خوارو، نیشتوکو چالاکیو او چلونو تر شا مې باید چې نزاکت او نرمي لیدلې وای. ګلان ځومره بې ثباته دي ! خو زه لا ډېر زلمکی وم او مینه مې لا نه شوای کولای.

# نهمه برخه

لکه څنګه چې زه پوه شوم، هغه وپتېیله چې له کوچیانو مرغانو سره مسافرت وکړي. پر وروستي ګهیځ هغه د نورو وختونو په پرتله خپل ګرزنده ستوری ښه پاک او منظم کړ. په غمخورۍ سره یې اورشیندي غرونه پاک کړل. هغه دوه اورشیندي غرونه درلودل چې د سباناري د تودولو لپاره ترې ډېر ښه کار اخیستل کېږي. سربېره پر دې، ده یو بل اورشیندی غر هم درلود

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې مړ دی او اور نه غورځوي. خو هغه وویل چې څوک څه پوهیږي چې څه به پېښ شي، ځکه خو يې دغه مړ اورشیندی غر هم پاک کړ. اورشیندي غرونه چې سم په احتیاط سره پاک شي نو بیا په ارامۍ بلیږي. اورشیندی غر داسې دی لکه د تودنۍ په دودکښ کې اور، لکه د تودنۍ په دودکښ کې چې اورغی (مومک) اور اخیستی وي. ښکاره خبره ده چې موږ په ځمکه کې خلک ډېر واړه یو او نه شو کولای چې خپل اورشیندي غرونه پاک کړو. ځکه خو هغوی موږ ته دومره بدې پېښې راپېښوي.



وروسته کوچني شاهزاده د بېلبدو په خپگان سره د «اډانسونیا ډیجیټاټا» وروستي تېغونه وشکول. هغه داسې فکر کاوه چې بیا به دې لور ته بېخي راستون نه شي. خو پر دغه ګهیځ عادي کار ده ته ډېر لذت ورباښه. کله چې يې د وروستي ځل لپاره ډېر ښکلي ګل ته اوبه ورکړې او غوښتل يې چې په سرپوښ باندې يې پټ کړي، نو نږدې وو چې وژاړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا یې وویل:

- د خدای په امان !
- ښایسته ګل ورته ځواب ورنه کړ.

کوچني شاهزاده په تکرار سره وویل:

- د خدای په امان !

(c) ketabton.com: The Digital Library

گل وتوخېد ، خو توخی یې له والګي څخه نه وو. بیا یې وویل:

- زه کمعقل وم. ته ما وبښه، او کوښښ وکړه چې نېکمرغه واوسې.


کوچنی شاهزاده ډېرحیران شو. د هغه ښیښه یې سرپوښ په لاسونو کې سوړ او وارخطا غوندي ولاړ وو. دا ارام نزاکت له کومه شو؟

دا یې وویل:

- هو ، هو ، ته پر ما ګران یې. دا خبرې ده واورېدې. دا زما ګنا ده چې ته

په دې خبر نه وې. هو دا مهمه هم نه ده. خو ته هم همدغسې کم عقل وې لکه زه. کوښښ وکړه چې نېکمرغه واوسې... سرپوښ پرېږده ، هغه زما نور نه دی په کار.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- خو باد...
- زه دومره ناجوړه نه یم او یخ نه یم وهلي... د شپې تازه ګي ما ته ګټه لري، ځکه چې زه خو ګل یم.
- خو ژوي، حشرات...
- که چیري زه غواړم چې له پتنګانو سره وپېژنم نو دوه، درې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیشوگیو ته هم باید ځان ټینګ کړم. پتنګان لکه چې ډېر ښکلي دي. کنه نو څوک به ماته راشي؟ ته به ډېر لرې یې. له لویو داړونکیو ځناورو څخه زه نه ډارېږم. زه هم منګولې او نوکان لرم.

هغه د زړه په ساده والي سره خپل څلور اغزي راوښوول. بیا یې وویل:

- دا نه شم زغملای! ته چې غواړې ولاړ شې، نو ورځه ولاړ شه. مه ځنډېږه، نور ځنډ مه کوه.

هغه نه غوښتل چې کوچنی شاهزاده یې ووینې چې دی څنګه ژاړي. دا ډېر باغروره ګل وو....

# لسمه برخه

د کوچني شاهزاده ګرزنده ستوري ته دا ګرزنده ستورګي (استېرویډونه) تر ټولو ډېر نږدې ول، لکه ۳۲۵، ۳۲۶، ۳۲۷، ۳۲۸، ۳۲۹ او ۳۳۰. کوچني شاهزاده وپتېیله چې لومړی دغو ستورګیو ته ولاړ شي؛ اړینه وه چې د ځان لپاره بوختیا پیدا کړي او کوم څه ترې زده کړي.

په لومړي ګرزنده ستورګي کې یوه پاچا ژوند کاوه. هغه ارغواني کالي او د قاقم پوستکی اغوستی وو. پر پلاز په ډېر ساده ډول، خو باعظمته ناست وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې یې کوچنی شاهزاده ولید ، نو یې په لوړ غږ وویل:

- دا دی، تبعه مې هم راپیدا شو !

کوچني شاهزاده داسې فکر وکړ:

- دا زه یې څنګه وپېژندلم؟ دا لومړی ځل دی چې دی ما وینی !

هغه پر دې نه پوهېد چې پاچاهان نړۍ ته په ډېر ساده لید ګوري: د هغوی لپاره ټول خلک اتباع دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاچا په ډېر غرور سره، چې دی کولای شي د کوم چا لپاره پاچا واوسي، کوچني شاهزاده ته وویل:

- رانږدې شه، غواړم چې له نږدې دې وګورم.

کوچني شاهزاده شاوخوا وکتل، چې چیرته کښني، خو د پاچا ډېرې ښکلې د قاقم له پوستکې جوړې شوې قبا ټول ګرزنده ستورګی پټ کړی وو. کوچنی شاهزاده دې ته اړوت چې ودرېږي، ځکه د کښناستو ځای نه وو پاتې، خو دی ډېر ستړی شوی وو...ناڅاپه یې اړږمی وایست. پاچا وویل:

- اداب او تشریفات دا اجازه نه ورکوي چې د پاچا په حضور کې

څوک اړږمی وباسي. دلته اړږمی ایستل منع دي.

کوچني شاهزاده په ځواب کې په شرمېنده ګۍ سره وویل:

- ما ناڅاپه او بې اختیاره اړږمی وایست. ما ډېره اوږده لار وهلې،

خوب مې بېخي نه دی کړی...

پاچا وویل:

- بیا نو زه تاته امر کوم چې اړږمی وباسه. ډېر کلونه کیږي چې ما

داسې څوک نه دی لیدلی چې اړږمی وباسي. زما لپاره دا د پام او لېوالتیا وړ ده. بس حکم کوم چې اړږمی وباسه! دا زما امر دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوچنی شاهزاده تک سور شو او ویې ویل:

- خو زه ډار یږم...زه نور اریږمی نه شم ایستلای...
- بیا نو، بیا نو زه امر کوم چې اریږمی وکاږه، یا خو...

له پاچا نه خبرې گډې وډې شوې او لکه چې لږ په غوسه هم شو.

د پاچا لپاره خو تر هر څه دا مهمه ده چې بې سرغړونې د ده اطاعت وشي. دی سرغړونه نه شي زغملای. دا یو مطلق شاه پرست وو. خو هغه ډیر مهربان وو، ځکه یې یوازې معقول امرونه یې ورکول. په دې وخت کې پاچا بیا داسې وویل:

- که چیرې زه کوم جنرال ته امر وکړم چې ولاړ شه له سمندره کب

خوړونکی مارغه راوړه او جنرال دا امر اجرا نه کړي، دا به د هغه ملامتیا نه وي، بلکې زما ملامتیا به وي.

کوچني شاهزاده له ډار سره وویل:

- اجازه ده چې کېنم؟

پاچا په ډیر عظمت سره د قاقم له پوستکي جوړې شوې قبا یو پلو راغونډ کړ او ویې ویل:

- زه امر کوم چې کېنه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو کوچنی شاهزاده هک پک حیران وو او له ځان سره یې ویل: ستورګی دومره کوچنی دی. دی پر څه شي او پر چا پاچاهي کوي؟

په دې وخت کې هغه داسې وويل:

- اعليحضرته، اجازه راکړئ چې له تاسو یوه پوښتنه وکړم...

پاچا په بېړه وویل:

- حکم کوم: پوښتنه وکړه !

عليا حضرته...ستاسو پاچاهي چېرته ده؟

پاچا عادي ځواب ورکړ:

- زما پاچاهي په هر ځای کې ده.
- په هر ځای کې؟

پاچا دی له لاسه ونیو او په ساده توب (تواضع) سره یې ورته خپل ګرزنده ستورګی او نور ګرزنده ستوري وښوول.

کوچني شاهزاده یو ځل بیا پوښتنه وکړه چې دا ټول ستاسو دي؟

پاچا ځواب ورکړ: هو.

ځکه چې هغه په رښتیا هم د بشپړ واک شاه وو، هېڅ ډول پولې او محدودیتونه یې په رسمیت نه پېژندل. کوچني شاهزاده وپوښتل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ستوري هم ستاسو اطاعت کوي؟

پاچا ځواب ورکړ:

نو خود ، ښکاره خبره ده چې ستوري هم زما اطاعت کوي. هغوی په يو رپ کې زما اطاعت کوي. زه سرغړونه نه شم زغملای.

کوچنی شاهزاده ډېر خوښ وو ، هغه له ځان سره داسې ويل چې که دی دومره غښتلی او ځواکمن وای ! نو ده به په يوه ورځ کې څلورڅلوېښت ځلي نه، بلکې دوه اويا ځلي، يا سل او يا هم دوه سوه ځلي له لمرلوېدو څخه خوند اخيست او دې ته به هم اړيزه نه پيدا کېده چې څوکۍ له يوه ځايه بل ځای ته يوسي ! په دې وخت هغه بيا لږ خپه شو ، ځکه چې خپل گرزنده ستوری يې په ياد راغی، ځان يې زړه ور کړ او له پاچا يې پوښتنه وکړه:

- زما ډېر زړه کيږي چې د لمرلوېدو سيل وکړم...مهرباني وکړئ...

دا پېرزوينه خو وکړئ، پر لمر باندې امر وکړئ چې ښکته شي...

- که چيري زه کوم جنرال ته امر وکړم چې د پتنگ په شان له يوه گل

څخه بل گل ته والوزه، او يا تر سمندره ولاړ شه او ببرته راشه او جنرال زما امر ونه مني، نو څوک به پړ وي، هغه او که زه؟

کوچني شاهزاده بې له ځنډه ځواب ورکړ:

- تاسو اعليحضرت.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاچا وویل:

- ببخي سمه خبره دې وکړه. له هر چا نه باید هغه څه وپوښتل او

وغوښتل شي، څه چې هغه ورکولای شي. واک باید تر هر څه ړومبی معقول وي. که چیرې ته خپل ولس ته امر وکړې چې ځانونه اوبو ته واچوئ، ولس انقلاب کوي. زه دا رښته لرم چې له خلکو اطاعت وغواړم، ځکه چې زما غوښتنې او امرونه معقول دي.

کوچنې شاهزاده د لمرلوېدو پوښتنه بیا ور په یاد کړه. هغه پر دې خبره ټینګ ولاړ وو. تر څو چې ځواب نه وای ورکړ شوی دی له خپلې خبرې نه تېرېده: د لمرلوېده څنګه شو؟

پاچا وویل:

- د لمرلوېدو سیل به هم وکړې. زه غواړم چې لمر ولوېږي. خو لومړی

باید ښو او مساعدو شرایطو ته انتظار وباسم، ځکه چې د واکمن حکمت په همدې کې دی.

کوچني شاهزاده وویل:

- شرایط به کله مساعد شي؟

پاچا په خبرو کې بند بند کېده، د یوه پرېړ کلیز پاڼې یې اړولې او ویې ویل:

- شرایط به...شرایط به نن ماښام پر اوو بجو او څلوېښت دقیقو

(c) ketabton.com: The Digital Library

مساعد شي. ته به يې بيا ووينې چې زما امر څنگه کره اجرا کيږي.

کوچني شاهزاده اربړمې وکينښ. افسوس چې دلته داسې نه ده چې هر مهال وغواړې د لمرلوېدو سيل وکړې ! رښتيا خبره دا چې دلته هغه نور زړه تنگی غوندې شو. نو پاچا ته يې وويل:

- زه درنه ځم. دلته نور کوم کار نه لرم.

پاچا ورته وويل:

- پاتې شه !

پاچا پر دې ډېر مغرور وو چې ده يو تبعه موندلی او نه يې غوښتل چې له هغه څخه بېل شي.

- دلته پاتې شه، زه به دې وزير مقرر کړم.
- د څه شي وزير؟
- نو...د نياو وزير.
- نو دلته خو هېڅوک نشته چې محاکمه شي او قضاوت پر وشي !

پاچا يې خبره رد کړه او ويې ويل:

- څنگه نشته. ما لا تر اوسه خپله ټوله پاچاهي نه ده کتلې. زه د

شاهي بگۍ لپاره ډېر زوړ يم او پلی چې گرزم نو ډېر ستړی کېږم...

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوشني شاهزاده شاه ټيټه کړه او يو ځل بيا يې د ګرزنده ستوري هاغه بل لوری وکوت. بيا يې په لوړ غږ وويل:

- ها خو اته هم هېڅوک نشته !

پاچا ورته وويل:

- څوک چې نشته، بيا نو پخپله پر خپل ځان قضاوت وکړه. دا تر ټولو ستونزمن کار دی. پر خپل ځان قضاوت کول ډېر ستونزمن کار دی، د دې په پرتله چې پر نورو قضاوت وشي. که چيري ته وکړای شې چې پر خپل ځان سم قضاوت وکړې، دا به په دې مانا وي چې ته رښتيا هم يو حکيم يې.

کوچني شاهزاده ورته وويل:

زه هر چيري کولای شم چې پر خپل ځان قضاوت وکړم. د دې لپاره اړينه نه ده چې زه دي حتمي دلته له تاسو سره پاتې شم.

د پاچا خوله بنده کېده او ويې ويل:

- زما په ګومان دلته زما د ګرزنده ستوري په کوم ځای کې يوه زړه مږه ژوند کوي. د شپې له خوا يې زه کړپ کړوپ اورم چې مزاحمت کوي. ته کولای شې چې هغه محاکمه کړې او قضاوت پر وکړې. کله ناکله پرې د سولی (اعدام) حکم صادروه. د هغې ژوند به په تا پورې اړه ولري. خو هر ځل بايد

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا وبښنل شي. دا زړه مړه باید وساتل شي، ځکه چې موږ یوازې همدا یوه مړه لرو.

کوچني شاهزاده وویل:

- د سولې د امرونو صادرول مې نه خوښیږي. بس زما وخت لږ دی، زه ځمه.

پاچا وویل:

- مه ځه، وخت لا شته.

کوچني شاهزاده ځان چمتو کړ چې وخوځیږي، خو نه یې غوښتل چې دا زوړ پاچا خپه کړي.

- که چیري تاسو اعلیحضرت غواړئ چې امرونه او حکمونه مو بې له

کومې سرغړونې ترسره شي، نو تاسو کولای شئ چې ماته یو معقول امر وکړئ. د ساري په توګه ماته امر وکړئ چې زه بې له کومه ځنډه وخوځیږم... زه فکر کوم چې د دې لپاره شرایط ډېر ښه مساعد دي...

پاچا ځواب نه ورکاوه، کوشني شاهزاده لنډه شېبه زړه نه کاوه، بیا یې سوړ اسویلی وایست او روان شو.

پر دې مهال پاچا په بېړه له شا نه غږ ورپسې وکړ:

- ته مې د سفیر په توګه مقرر کړې!

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغه له خبرې د اسې ښکارېده چې له دې خبرې سره کوم مخالفت نه لري.

کوچنی شاهزاده پر لاره روان وو او له ځان سره يې داسې وويل:

- لويان عجيب خلک دي.

## يوولسمه برخه

په دويم گرزنده ستوري کې يو عزت غوښتونکي ژوند کاوه. کله چې يې کوچنی شاهزاده له لري وليد ، نو يې په لوړ غږ وويل:



(c) ketabton.com: The Digital Library

- اوو، دا دی درناوی کوونکی راپیدا شو !

شهرت غوښتونکي خلک داسې فکر کوي چې ټول پر دوی باندې خوشالېږي. کوچني شاهزاده وویل:

- ورځ مو په خیر. ستاسو د شاپو خولۍ څومره په زړه پورې ده.

عزت غوښتونکي وویل:

- دا په دې خاطر چې د ستړې مه شئ پر مهال یې کاروم. کله چې څوک

زما هرکلی وکړي او د درناوي سر ټیټ کړي، بیا نو زه د شاپو خولۍ ورته له سره لرې کوم. خو له بده مرغه دې لور ته هېڅوک هم سر نه راښکاره کوي.

کوچني شاهزاده له ځان سره وویل:

- عجیبه؟ دی هېڅ پوه نه شو.

پر دې مهال عزت غوښتونکي ورته وویل:

- لاسونه دې وپړکوه.

کوچني شاهزاده لاسونه وپړکول. عزت غوښتونکي خپله د شاپو خولۍ له سره لرې کړه، په ساده توب او خاکسارۍ سره یې ورته سر ټیټ کړ.

کوچني شاهزاده له ځان سره فکر وکړ: د زاړه پاچا له گرزنده ستوري نه دلته خوشالي ډېره ده. نو یې یو ځل بیا لاسونه وپړکول. عزت غوښتونکي یو ځل

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا د شاپو خولۍ له سره لرې کړه، سر یې ورته ټیټ کړ او په دې ډول یې ستړي مه شي سره وکړه.

پینځه دقیقې پرله پسې همدا ستړي مه شي تکرارېده، خو د کوچني شاهزاده زړه یې ورتور کړ. بیا یې وپوښتل:

- د دې لپاره چې د شاپو خولۍ له سره ولوېږي سړی باید څه وکړي؟

خو عزت غوښتونکي یې خبرو ته غوږ ونه نیو. شهرت غوښتونکي خلک هېڅ ډول خبرو ته غوږ نه نیسي، هغوی یوازې هغو خبرو ته غوږ نیسي او اوري یې، چې په هغو کې د دوی ستاینه کیږي.

بیا یې له کوچني شاهزاده څخه پوښتنه وکړه:

- ته په رښتیا زما یو ډېر ښه او خوشال درناوی کوونکی یې؟
- درناوی کول - یانې څه؟
- درناوی کول یانې پر دې اعتراف کول چې په دې گرزنده ستوري کې

تر ټولو زه ډېر ښکلی، تر ټولو زما کالي ډېر ښایسته، تر ټولو زه ډېر بډای او تر ټولو زه ډېر هوښیار یم.

- ښه، نو ستا په گرزنده ستوري کې خو نور هېڅوک نشته !
- خیر دی، ماته دا خوښي راوبښه، بیا هم پر ما باندې خوشالي

څرگنده کړه !

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوچني شاهزاده اوږې ورو پورته وغورځولې او ويي ويل:

- زه درباندې خوشاله يم، نو دا کار تاته څه خوشالي او څه گټه درکوي؟

کوچنی شاهزاده له عزت غوښتونکي څخه په منډه منډه رهي شو. هغه خپله لار ونيوه او له ځان سره يې داسې فکر وکړ:

- په رښتيا چې لويان ډېر عجيب خلک دي.

# دولسمه برخه

په بل گرزنده ستوري کې يو نښه يي ژوند کاوه. کوچنی شاهزاده له هغه سره ډېر لږ وخت وو ، خو تر دې وروسته کوچنی شاهزاده ډېر خواشينی شو.



(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې دی دغه گرزنده ستوري ته راغی، نېشه یي سړی چوپ ناست وو، ډکو، نیم ځښل شویو او تشو بوتلونو ته یې په ځیر ځیر کتل. کوچني شاهزاده پوښتنه ترې وکړه:

- دا ته څه کوې؟

نېشه یي په بړوس او تریو تندي ورته ځواب ورکړ:

- ځښم یې.
- د څه لپاره؟
- د دې لپاره چې هېر یې کړم.

د کوچني شاهزاده زړه پر هغه ډېر وسو او بیا یې ترېنه وپوښتل:

- څه شی غواړې چې هېر کړې؟

نېشه یي اعتراف وکړ او ویې ویل:

- غواړم دا هېر کړم چې زما لپاره ډېر د شرم او خجالت ځای دی.

نېشه یي ښکته کتل.

کوچني شاهزاده غوښتل چې له مسکین سره مرسته وکړي. نو یې پوښتنه ترې وکړه:

- د څه شي په خاطر شرمېنده یې؟
- په دې خاطر خجالته یم چې زه مشروب ځښم!

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه نور نه شو کولای چې یوه خبره هم وکړي.

کوچنی شاهزاده په داسې حال چې هک پک هېښ وو ، له دې ځایه هم روان شو. دی پر لاره روان وو او له ځان سره یې داسې فکر کاوه:

- هو ، دا خبره حق ده چې لویان ډېر عجیب خلک دي.

# دیارلسمه برخه

څلورم گرزنده ستوری د یوه معامله گر او جدي عملي کارکوونکي سړي ستوری وو. هغه داسې بوخت وو چې د کوچني شاهزاده په ورتگ سره یې ان سر هم پورته نه کړ. خو کوچني شاهزاده ورته وویل:

- ورځ مو په خېر. ستاسو سگریټ مړ شوی دی.
- درې او دوه-پېنځه کیږي. پېنځه او اووه- دولس. دولس او درې-

پېنځلس. ورځ دي په خېر. پېنځلس او اووه-دوه ویشت. دوه ویشت او شپږ-اته ویشت. د اورلگیت د خلي لگولو ته هم وخت نشته. شپږویشت او پېنځه-یودېرش. اوف ! ټول شوه پېنځه سوه یو میلیون شپږلکه دوه ویشت زره اووه سوه یودېرش.

- پېنځه سوه میلیونه څه شی؟
- آ؟ ته لا دلته یې؟ پېنځه سوه میلیونه....اوس نه پوهېږم څه شی...

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه ډېر کار لرم ! زه جدي سړی يم، چټياتو ته وخت نه لرم ! دوه او پينځه-اووه کيږي...

کوچني شاهزاده يو ځل بيا ترې وپوښتل:

- څه شی پينځه سوه ميليونه شو ؟

دی تر هغو پر خپله پوښتنه کلک ولاړ وو تر څو چې ځواب نه وو ورکړ شوی. جدي سړي سر پورته کړ:



- ځلور پنځوس کاله کيږي چې زه په دې گرزنده ستوري کې ژوند کوم.

په دې ټول مهال کې ماته يوازې درې ځلي مزاحمت شوی. لومړی ځل دوه ويشت کاله پخوا له کوم ځای نه يوه مرغټانه را الوتې وه او ماته راغله. هغې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېر شور ماشور جوړ کړ چې له همدې لامله په جمع کې رانه درې تېروتنې وشوې. دويم ځل يوولس کاله دمخه د روماتېزم د درد سخته حمله راباندې راغله، ځکه چې زه تل ناست يم، کار مې د ناستو دی او د ګرځېدو لپاره وخت نه لرم. زه جدي سړی يم... دريېم ځل دا دی، دی ! ښه، ټول پېنځه سوه ميليونه شو...

- څه شی پېنځه سوه ميليونه شو ؟

معامله ګر سړی پوه شو چې بايد ځواب ورکړي، کنه نو په ارامه به يې پرې نه ږدي.

- دا کوچني شيان چې کله کله په هوا کې ښکاري، دا پېنځه سوه ميليونه شو.
- کوم کوچني شيان، مچان؟
- نه، نه، داسې واړه واړه دي، ځليږي.
- مچۍ؟
- نه، مچۍ نه دي. داسې کوشني کوشني، طلايي رنګه، هر يو لټ چې

کله ورته وګوري، نو بيا په چورت کې ولاړ شي. خو زه جدي سړی يم. زه د خيال او چورت لپاره وخت نه لرم.

- ستوري؟
- هو هو، ستوري.
- پېنځه سوه ميليونه ستوري؟ ته په هغوی باندې څه کوې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

- پينځه سوه يو ميليون، شپږ لکه دوه ويشت زره اووه سوه يو دېرش.

زه جدي سړی يم، زما کره شمېر خوښيږي.

- ښه، نو په دې ټولو ستورو باندې څه کوې؟
- څه پرې کوم؟
- هو.
- زه هېڅ پرې نه کوم، خو هغوی ټول زما ستوري دي.
- ټول ستوري ستا دي؟
- هو.
- نو ما خو يو پاچا وليد چې...
- پاچاهان هېڅ شی هم نه لري. هغوی يوازې پاچاهي کوي. ستوري

لرل او پاچاهي کول دواړه يوه مانا نه لري.

- نو دا دومره ستوري دي د څه لپاره خپل کړي؟
- د دې لپاره چې شتمن او بډای واوسم.
- د څه شي لپاره غواړې چې شتمن واوسې؟
- د دې لپاره چې نور نوي ستوري رانيسم، که چيري نوي ستوري

کوم څوک کشف کړي.

کوچني شاهزاده فکر وکړ:

- دی داسې قضاوت او خبرې کوي لکه هغه نېشه يي چې کولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو يې بيا ورڅخه پوښتنې پيل کړې:

- څنګه کېداى شي چې ستوري د يو چا ملکيت او شتمني واوسي؟

معامله ګر په ډونګن غږ سره پوښتنه وکړه:

- ستوري د چا دي؟
- نه پوهېږم، د هېچا نه دي.
- يانې چې زما دي، ځکه زه لومړى سړى وم چې هغوى زما فکر ته

راغلل.

- بس همدومره؟
- هو، خود، همدومره. که چيري ته داسې يو الماس پيدا کړې چې

خاوند ونه لري، مانا دا چې هغه ستا شو. که چيري ته داسې يو ټاپو پيدا کړې چې خاوند ونه لري، هغه ټاپو ستا دى. که چيري تر نورو ټولو دمخه ستا په ذهن کې کومه مفکوره راپيدا شي، ته د هغې د اختراع ليک ثبت ځانته اخلې، دا مفکوره ستا شوه. نو ستوري ټول ځکه زما دي چې تر ما مخکې بل هېڅوک دې ته نه وو ځير شوى چې دا ستوري لاس ته راوړي.

کوچني شاهزاده وويل:

- دا خبره سمه ده. نو ته په هغوى باندې څه کوې؟

معامله ګر په ځواب کې ورته وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- هغوی زما په واک کې دي. زه يې اداره کوم. دا ډېر ستونزمن کار

دی، خو زه جدي سړی يم.

د کوچني شاهزاده لپاره دا پوښتنې لږ وې. هغه وويل:

- که چيري زه کوم وربښمين دسمال ولرم، زه کولای شم چې تر غاړې

يې تاو کړم او له ځان سره يې يوسم. که چيري زه کوم گل ولرم، زه کولای شم چې هغه راوشکوم او له ځان سره يې يوسم. نو ته خو نه شې کولای چې ستوري له ځان سره يوسې !

- نه، نه يې شم کولای، خو زه کولای شم هغوی په بانک کې کېږدم.
- دا څنگه؟
- دا داسې: په يوه کاغذ کې ليکم چې زه دومره ستوري لرم. تر دې

وروسته دا کاغذ په صندوق کې اچوم او په کيلي يې کولپوم.

- بس خلاص؟
- همدومره بس ده نو.

کوچني شاهزاده له ځان سره فکر وکړ:

- په زړه پورې خبره ده. ان شاعرانه ده. خو دومره جدي نه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا چې کوم شی جدي دی او کوم شی جدي نه دي، په هغه کوچنی شاهزاده داسې پوهېد لکه څنگه چې يې پرې سر خلاصېده، داسې نه لکه لويان. هغه وويل:

- زه يو گل لرم او هر گهيځ ورته اوبه ورکوم. زه درې اورشيندي

غرونه لرم چې هره اوونۍ يې پاکوم. زه هغوی درې واړه پاکوم، هغه اورشيندی غر چې مړ شوی او اور نه غورځوي، هغه هم پاکوم. څکه کېدای شي کومه پېښه وشي. زما اورشيندو غرونو ته دا گټه لري چې هغوی زما دي او زما په واک کې دي. خو ستورو ته ستا هېڅ کومه گټه نه رسيږي....

د معامله گر سړي خوله خلاصه پاتې وه او هېڅ ځواب يې نه درلود، کوچنی شاهزاده هم ترې روان شو. هغه په سپېدلۍ له ځان سره وويل:

- په رښتيا چې لويان هېښنده خلک دي.

# څوارلسمه برخه

پېنځم گرزنده ستوری ډېر په زړه پورې وو. هغه تر ټولو کوچنی وو. په دغه ستوري کې يوازې يو څراغ او څراغ بلوونکی ځايېدل. کوچنی شاهزاده نه پوهېد په دغه کوچني ستوري کې، چې چيرته لري په هسک کې دی، نه پکې کورونه شته، نه پکې څوک ژوند کوي، څراغ او څراغ بلوونکی څه په کار دي. خو هغه داسې فکر وکړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ښايي چې دا سړی ناپوه او نامعقول وي. خو دی دومره ناپوه نه

ښکاري لکه پاچا، عزت غوښتونکی، معامله گر او نېشه يي. د ده په کار کې بيا هم مانا شته. دی چې کله خپل څراغ بل کړي داسې ښکاري، لکه يو بل ستوری او يا يو گل چې راپيدا شي. خو کله چې څراغ مړ کړي داسې ښکاري لکه ستوری او گل چې ويده شي. ډېره ښه بوختيا ده. دا په رښتيا چې گټور کار دی، ځکه چې ښکلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې هغه دغه ستوري ته ورننېدې شو، نو يې له درناوي سره څراغ بلوونکي ته سرټيټ کړ. هغه وويل:

- ورځ مو په خير. تا ولې اوس څراغ مړ کړ؟

څراغ بلوونکي په ځواب کې ورته وويل:

- ورځ مو په خير. څراغ مې ځکه مړ کړ چې پرېکړه همداسې شوې ده.
- دا څه ډول پرېکړه ده؟
- څراغ مړ کول. ماښام مو په خير.

هغه يو وار بيا څراغ بل کړ.

- ولې دې بيا څراغ بل کړ؟

څراغ بلوونکي په تکرار سره وويل:

- پرېکړه همداسې ده.

کوچني شاهزاده وويل:

- زه پوه نه شوم.

څراغ بلوونکي وويل:

- دا دومره ستونزمنه خبره نه ده چې سړی پرې پوه نه شي. پرېکړه

پرېکړه ده. ورځ مو په خير.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څراغ یې مړ کړ.

وروسته یې پر سره دسمال باندې د تندي خوله پاکه کړه او ویې ویل:

زما ورځنۍ (کسب) ډېره ستونزمنه ده. یو مهال دې کار مانا درلوده. ما ګهیځ څراغ مړ کاوه او ماښام مې بلاوه. ما ټوله ورځ په واک کې درلوده چې دمه وکړم او شپه مې هم په واک کې وه چې خوب پوره کړم..

- وروسته بیا پرېکړه بدله شوه؟

څراغ بلوونکي وویل:

- بدبختي همدا ده چې پرېکړه نه ده بدله شوې ! زما ګرزنده ستوری

کال تر بله لا ګړندی تاوېږي. کوشني شاهزاده ترې وپوښتل:

- نو اوس به څه کوئ؟
- هېڅ. ګرزنده ستوری په یوه دقیقه کې یو وار څرخي او زه د دمې

کولو لپاره یوه ثانیه وخت هم نه لرم. هره دقیقه څراغ مړ کوم او بېرته یې بلوم.

- عجیبه خندوونکې خبره ده ! یانې دا چې ستا ټوله ورځ یوه دقیقه ده !

څراغ بلوونکي وویل:

- د خندا وړ څه نشته. زه او ته دا دې یوه میاشت وشوه چې سره غږېږو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- بشپړه میاشت؟ !
- هو. د برش دقیقې. یانې چې د برش ورځې. ماښام مو په خبر !

هغه یو وار بیا ځراغ بل کړ.

کوچنې شاهزاده ځراغ بلوونکې ته کتل او ورو ورو یې خوښېده، ځکه چې هغه پر خپله خبره ولاړ او خپلې خبرې ته ژمن وو. د کوشنې شاهزاده هغه مهال په یاد راغی چې ده به خپله څوکۍ له یوه ځایه بل ځای ته مخکې کوله، د دې لپاره چې د لمرلوېدو سیل وکړي. د ده زړه وشو چې له ملګري سره مرسته وکړي. نو یې ځراغ بلوونکې ته وویل:

- غوږ ونیسه. زه غواړم تا ته داسې یو چل دروښیم چې ته وکولای شې

هر وخت چې وغواړې دمه وکړې...

ځراغ بلوونکي وویل:

- زه تل غواړم چې دمه وکړم، تل مې استراحت ته زړه کیږي.

خو کېدای شي چې سړی خپلې خبرې ته ژمن وي او کېدای شي چې سړی لټ وي.

کوچني شاهزاده خپلو خبرو ته دوام ورکاوه:

- ستا ګرزنده ستورګی دومره کوشنی دی چې ته کولای شې په درې

(c) ketabton.com: The Digital Library

گامه کې د هغه له شاوخوا نه راتاو شي. اړینه ده په داسې ګړندیتوب سره تګ وکړې چې تل په لمر کې پاتې شې. کله چې وغواړې دمه وکړې، ته همداسې څه، څه او څه... نو ورځ به دې دومره اوږدېږي، څومره چې ته غواړې.

څراغ بلوونکي وویل:

- نو دا خو ماته دومره ګټه نه لري. په نړۍ کې زما تر هر څه خوب ډېر خوښېږي.

کوچني شاهزاده ورته خپل افسوس څرګند کړ:

- بیا دې نو کار خراب دی.

څراغ بلوونکي وویل:

- کار مې خراب دی. ورځ دې په خېر.

بیا یې څراغ مړ کړ.

کوچني شاهزاده خپله لار ونیوه او له ځان سره یې وویل:

- دا دی انسان، دا دی انسان. هر څوک چې یې ووینې په سپک لید به ورته وګوري، هم پاچا ته، هم عزت غوښتونکي ته، هم نښه یي ته او هم معامله ګر ته. زه فکر کوم چې تر دوی ټولو همدا یو د خندا وړ نه دی. ښایي په دې خاطر چې هغه یوازې د خپل ځان په اړه فکر نه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوشني شاهزاده سوړ اسويلی وايست. له ځان سره يې فکر کاوه:

- زړه مې غواړي چې له همدې سړي سره دوستي او ملګرتيا وکړم. خو د ده ستورګی ډېر کوچنی دی او دوه کسه پکې نه ځايږي...

هغه دا زړه نه کاوه له ځان سره پر دې اعتراف وکړي، چې دغه ډېر ښه ستورګی د يو بل لامل له مخې هم د ده ډېر خوښيږي. هغه دا چې په دغه ګرزنده ستورګي کې په څلرويشتو ساعتو کې سړی کولای شي چې يو زر څلور سوه څلوېښت ځلي د لمرلوېدو سيل وکړي او خوند ترې واخلي !

# پينځلسمه برخه

شپږم ګرزنده ستوری تر مخکيني ګرزنده ستورګي لس ګرايه لوی وو. په دې ګرزنده ستوري کې يو بوډا ژوند کاوه او پنډ پنډ کتابونه يې ليکل. کله چې يې کوشنی شاهزاده وليد نو يې په لوړ غږ وويل:

- وګورئ ! سيلاني مساپر راغی.

کوچنی شاهزاده د دې لپاره چې دمه وکړي نو پر مېز کښېناست، ځکه چې ډېر ګرزېدلی او ډېره مساپري يې کړې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بوډا ترې وپوښتل:

- ته د کوم ځای یې؟

کوچني شاهزاده له بوډا څخه پوښتنه وکړه:

- دا دومره ستر کتاب د څه شي کتاب دی؟ تاسو دلته څه کوئ؟

بوډا ځواب ورکړ:

- زه جغرافیه پوه یم.
- جغرافیه پوه یانې څه شی؟
- جغرافیه پوه هغه پوهاند ته ویل کیږي چې پر دې ټولو پوهیږي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

دریابونه، سمندرګي، سیندونه، ښارونه، غرونه او دښتې چیرې پرتې دي، یا په کومو ځایونو کې موقعیت لري.

کوچني شاهزاده وویل:

- څومره په زړه پورې ! اصلي کار خو دغه دی !

ده د جغرافیه پوه پر ګرزنده ستوري نظر واچاوه. ده تر اوسه دومره لوی ستوری نه وو لیدلی. بیا یې وویل:

- ستاسې ګرزنده ستوری ډېر ښایسته دی. تاسې سمندرونه لرئ؟

جغرافیه پوه وویل:

- زه هغوی نه پېژنم.

کوچني شاهزاده په مایوسۍ سره وویل:

- او-و...غرونه لرئ؟

جغرافیه پوه بیا وویل:

- غرونه نه پېژنم.
- ښارونه، سیندونه، دښتې څنګه، لرئ یې؟
- دا هم نه پېژنم.

نو تاسې خو جغرافیه پوه یاست !

(c) ketabton.com: The Digital Library

بوډا وويل:

- سمه خبره دې وکړه. زه جغرافيه پوه يم، سيلاني نه يم. زه سيلانيانو

ته ډېره اړتيا لرم. ځکه چې د ښارونو ، سيندونو ، غرونو ، سمندرګيو ، سمندرونو او دښتو شمېر جغرافيه پوه نه نيسي. جغرافيه پوه ډېر مهم وګړی دی، دی د ګرزېدو لپاره وخت نه لري. دی له خپل دوتره د باندې نه وزي. خو ده ته سيلانيان او ګرزندويان راځي او د هغوی کيسې ليکي. که چيري د دوی له شمېر څخه يې کوم څوک کومه په زړه پورې کيسه وکړي، جغرافيه پوه يې سموي او کنترولوي يې چې دا سړی رښتونی ګرزندوی دی او که نه.

- د څه لپاره؟
- د دې لپاره چې که چيري سيلاني دروا غ ووايي، نو د جغرافيې په

درسي کتابونو کې هر څه ګډوډ ېږي. که چيري هغه ډېر څښل هم وکړي بيا هم بدبختي ده.

- ولې؟
- ځکه چې نېشه يانو ته يو شی دوه ښکاري. په کوم ځای کې چې يو

غر وي، جغرافيه پوه دوه ليکي.

کوچني شاهزاده وويل:

- ما يو سړی پېژاند...له هغه نه به يو خراب ګرزندوی جوړ شوی وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېره شونې ده. په دې توګه که چیري مالومه شي چې ګرزندوی ربښتونی سړی دی، بیا نو د هغه نوې ایستنه (کشف) کنترولوي.

- څنګه یې کنترولوي؟ هماغلته ورځي او ګوري یې؟
- نه، دا کار ډېر ستونزمن دی. له ګرزندوی نه یې ثبوت غواړي. د

ساري په توګه، که چیري هغه لوی غر کشف کړي، نو هغه باید له دغه غره نه لوېې ډبرې راوړي.

جغرافیه پوه ناارامه او اندېښمن شو:

- ته خو پخپله ګرزندوی یې ! ته له لرې ځایه راغلی یې ! د خپل

ستوري په اړه ما ته کیسه وکړه ! هغه خپل وچکښ تېره کړ او پنډ کتاب یې پرانیست. د ګرزندویانو کیسې خلک لومړی په وچکښ لیکي. کله چې یې ګرزندویان ثبوت کړي، تر هغه وروسته یې بیا کیسه په قلم لیکي. جغرافیه پوه وویل:

- ما ته تاته غوږ نیولی دی، وایه.

کوچني شاهزاده وویل:

زه هلته داسې کوم په زړه پورې شیان نه لرم. زما هر څه ډېر کوچني دي. درې اورشیندي غرونه لرم. دوه یې اور غورځوي او دا بل درېیم یې ډېر وخت کیږي چې مړ دی، اور نه شیندي. خو بیا هم کېدای شي چې بیا په اور شیندلو پیل وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

جغرافیه پوه د ده خبره تایید کړه:

- هو ، کېدای شي چې دا پېښه بیا وشي.
- نور، یو گل لرم.

جغرافیه پوه وویل:

- موږ گلان نه لیکو او په کتاب کې یې نه ثبتوو.
- ولې؟ ! گل خو تر هر څه ډېر ښکلی دی !
- ځکه چې گلونه تېرېدوني (فاني) دي.
- څنگه تېرېدوني دي؟

جغرافیه پوه وویل:

- د جغرافیې کتابونه په نړۍ کې تر ټولو ارزښتناک کتابونه دي.

هغوی هېڅ مهال نه زړېږي. په دې چې دا ډېره کمپېښه پېښه ده چې غر دې له خپل ځایه وښوري. یا خو دا چې دریاب دې وچ شي. موږ د تلپاتې او بدلون نه موندونکو شیانو په اړه لیکنه کوو.

کوچني شاهزاده د ده خبرې غوځې کړې او ویې ویل:

- نو مړ شوی اورشیندی غر کېدای شي چې بیا راژوندی شي او په

اور شیندلو پیل وکړي.

نو دا «تېرېدونی» څه شي ته وایي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

جغرافیه پوه وویل:

- دا چې اورشیندی غر اور غورځوي یا یې نه غورځوي، دا زموږ

جغرافیه پوهانو لپاره مهمه نه ده. زموږ لپاره مهم غر دی. غر بدلون نه مومي.

کوچنی شاهزاده چې هر مهال پوښتنه وکړي او د خپلې پوښتنې ځواب وا نه وري، نو په ارامه نه کېني، ځکه خو یې بیا وپوښتل:

- «تېرېدونی» یانې څه؟
- دا په دې مانا: هغه شی چې باید پر لنډ مهال له منځه ولاړ شي.
- نو زما گل باید پر راتلونکي لنډ مهال له منځه ولاړ شي؟
- خود.

کوچني شاهزاده له ځان سره وویل:

- زما ښکلی گلاب او زما خوشالي لنډ عمر لري او له نړۍ نه هېڅ

دفاع نه لري. هغه یوازې څلور اغزي لري. ما دی خوشي کړی او زما په گرزنده ستوري کې یوازې دی !

ده لومړی ځل د پرې ښودل شوي گل ارمان وکړ. خو هماغه شېبه ورته زړورتوب راستون شو. له جغرافیه پوه څخه یې پوښتنه وکړه:

- تاسو څه سلا راکوئ چې کومې خوا ته ولاړ شم؟

جغرافیه پوه ورته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د ځمکې گرزنده ستوري ته ولاړ شه. هغه ډېر ښه نوم لري....

کوچنی شاهزاده پر خپله لار روان شو، خو د پرېږ ښودل شوي گل خیال او اندېښنه لا ورسره وه.

# شپاړسمه برخه

کله چې کوچنی شاهزاده اووم گرزنده ستوري ته راغی نو دا اووم ستوری ځمکه وه. ځمکه هسې عادي گرزنده ستوری نه دی! په هغې کې یوسلو یوولس پاچاهان (له دې شمېر څخه تورپوستي پاچاهان هم دي)، اووه زره جغرافیه پوهان، نهه لکه معامله گر، اووه نیم میلیونه نېشه یان او درې سوه یوولس میلیونه عزت غوښتونکي ژوند کوي چې ټول نږدې دوه میلیارده لویان کیږي.

د دې لپاره چې تاسو پوه کړم، ځمکه څومرهستره ده، غواړم دومره ووایم، تر هغه مهاله چې برېښنا لا اختراع شوې نه وه، اړینه وه چې په ټولو شپږو لویو وچو کې گڼ شمېر څراغ بلوونکي شتون ولري چې ټول شمېر یې څلور لکه دوه شپېته زره پېنځه سوه یوولس کېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که چیري له وړاندې نه ورته وکتل شي، نو دا ډېره ښکلې او په زړه پورې تماشا وه. د دغه لوی شمېر څراغ بلوونکیو حرکتونه تر یو نازک تول (وزن) لاندې وو، لکه د بالت په نڅا کې. لومړی د نوي زیلاند او استرالیا څراغ بلوونکي وړاندې تلل. کله چې به یې څراغونه بل کړل، نو ویده به شول. په دوی پسې به د چین د څراغ بلوونکو نوبت راورسېد. دوی چې به خپله نڅا ترسره کړه، نو به د پردې شاته ولاړل. تر دوی وروسته به د روسیې او هند د څراغ بلوونکو نوبت راورسېد. ورپسې د افریقا او اروپا د څراغ بلوونکو وار وو. تر دې وروسته به د سویلي امریکا د څراغ بلوونکو نوبت راورسېد. بیا به نو د شمالي امریکا د څراغ بلوونکو نوبت شو. دوی هېڅ مهال تېروتنه نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوله او نه غلطېدل، ټول پر خپل مهال سټېژ ته ختل. هو، دا ډېره څلانده او ښکلې تماشاه وه.

یوازې هغه څراغ بلوونکي چې په شمالي قطب کې یې باید یوازینی څراغ بلولای او د ده په شان په سویلي قطب کې یوه څراغ بلوونکي ارام ژوند درلود، ځکه چې دوی دواړو په کال کې یوازې دوه ځلي دا کار کاوه.

# اوولسمه برخه

کله چې سړی ټوکې کوي، ته به نه غواړې چې دروا غ ووایې، خو کله کله پکې له سړي نه وویل شي. ما د څراغونو په اړه کیسه کې د ربښتیا پر وړاندې لږ څه غلطي وکړه. له دې ډار بړم، هغه څوک چې زموږ گرزنده ستوری نه پېژني، په اړه یې غلط فکر ونه کړي. خلک پر ځمکه باندې دومره ډېر ځای نه نیسي. که چیرې د هغې دوه میلیارده اوسېدونکي سره راټول او د گڼې گونې په بڼه سره یو ځای شي، لکه په میټینگ کې چې سره ولاړ وي، نو بې له کومې ستونزې به هغوی ټول په داسې یوه سیمه کې ځای شي چې شل میله اوږدوالی ولري او شل میله سور. ټول بشریت کېدای شي چې د ارام سمندر په تر ټولو کوچني ټاپو کې سره یو ځای کوټه شي.

ښکاره خبره ده چې لویان به ستاسو پر خبره باور ونه کړي. هغوی پر دې اند دي چې ډېر ځای نیسي. هغوی د «اډانسونیا ډیجیټاټا» د ونې په شان پخپله خپل ځان ته ډېر ستر ښکاري. تاسې هغوی ته سلا ورکړئ چې سمه شمېرانه (محاسبه) وکړي. د هغوی دا ډېر خوښېږي، هغوی ارقام زښت ډېر خوښوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاسې پر دې شمېر خپل وخت له لاسه مه ورکوئ. دا يو بې گټې کار دی. تاسې خو بې له دې هم پر ما باور لرئ.

نو کله چې کوچنی شاهزاده ځمکې ته راپېښ شو ، نو يې ډېر حيران شو چې يو بشر هم ونه ليد او ډېر هېښ شو. هغه ان داسې فکر وکړ چې دی غلط شوی او کوم بل گرزنده ستوري ته راغلی دی. خو پر دې مهال ده ته نږدې په شگه کې يوه کړۍ، چې د سپوږمۍ د وړانگې رنگ يې درلود ، وښوربده.



(c) ketabton.com: The Digital Library

کوچني شاهزاده په هر حال بیا هم داسې وویل:

- ماښام مو په خیر.

مار ځواب ور نه کړ.

- ماښام دې په خیر.
- دا زه کوم گرزنده ستوري ته راپېښ شوم؟

مار وویل:

- ځمکې ته راغلی یې، افریقا ته.
- ښه، ښه. نو ایا په ځمکه کې خلک نشته؟
- دا دښته ده. په دښته کې هېڅوک ژوند نه کوي. خو ځمکه لویه ده.

کوچنی شاهزاده پر ډبره کېناست او هسک ته یې وکتل. ده په چورتي حالت سره وویل:

- غواړم پوه شم چې ستوري د څه په خاطر ځلیږي. ښایي په دې خاطر

چې وړاندې یا وروسته.

هر څوک وکولای شي بیا خپل ستوری ولټوي. وگوره ورته، زما گرزنده ستوری هاغه دی، سیده زموږ له پاسه... تر هغه پورې واټن ډېر اوږد او لوی دی!

مار وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ستا گرزنده ستوری ښکلی دی. ته به دلته پر ځمکه باندې څه کوې؟

کوچني شاهزاده وويل:

- ما له خپل گل سره لانجه وکړه.
- ښه، ښه...

وروسته دواړه چوپ شول.

کوچني شاهزاده بيا پر خبرو پيل وکړ:

- خلک چېرته دي؟ په دښته کې بيا هم سړی يوازيتوب احساسوي...

مار وويل:

- د خلکو په منځ کې هم يوازيتوب احساسېږي.

کوچني شاهزاده په ځير هغه ته وکتل، بيا يې وويل:

- ته عجيب موجود يې. تر گوتې پرېړ نه يې...

مار د ده خبره رد کړه او ويې ويل:

- خو د پاچا تر گوتې په ما کې غښتلتيا ډېره ده.

کوچنی شاهزاده موسکی شو او ورته ويې ويل:

- نو ايا ته دومره غښتلی يې؟ ته ان پښې او منگولې هم نه لرې. ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسافرت هم نه شي کولای...

مار وويل:

- زه کولای شم د هرې بېړۍ په پرتله تا تر ډېره لرې ځای یوسم.

مار د کوچنۍ شاهزاده له سپېنتې لکه د سرو زرو د وښي په شان تاو راتاو شو او ويې ويل:

- له هر هغه چا سره چې زه په تماس کې کېږم، زه هغه بېرته هغې ځمکې ته راستنوم چې دی ترې وتلی وي. خو ته پاک یې او له ستوري نه راغلی یې...

کوچني شاهزاده ځواب ور نه کړ. مار خبرو ته دوام ورکړ:

- پر تا مې زړه سوځي. ته په دې د ګرانیټ ډبرې په شان کلکه ځمکه کې ډېر کمزوری یې. که چیرې ته پر کومه ورځ د خپل پرې ښودل شوي ګرزنده ستوري ارمان وکړې، زه کولای شم له تا سره مرسته وکړم، زه کولای شم...

کوچني شاهزاده وويل:

- زه ډېر ښه پوه شوم. خو ته ولې هر مهال په معما (مرموزې) سره خبرې کوې؟

مار وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- زه ټولې معماوې حلوم.

تر دې وروسته دواړه چوپ شول.


# اتلسمه برخه

کوچنی شاهزاده تر دښتې تېر شو او هېڅوک یې ونه لیدل. په دې ټول وخت کې هغه یوازې یو کوچنی گل ولید چې ښایسته نه وو او درې گلپاڼې یې درلودې. کوچني شاهزاده گل ته وویل:

- ستړی مه شې.
- گل ځواب ورکړ. خبر یو سې، ته هم ستړی مه شې.

کوچني شاهزاده په ادب پوښتنه ترې وکړه:

- خلک چېرته دي؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

گل یوه ورځ یو کاروان لیدلی وو چې تر څنګ یې تېر شو.

- خلک؟ نه، نه... هغوی لکه چې ټول شپږ یا اووه کسان دي. ما هغوی ډېر کلونه پخوا لیدلي دي. مالومه نه ده چې اوس یې سړی چیري ولټوي. هغوی ریښې نه لري، ځکه یې باد یوې خوا او بلې خواته وړي. دا یو ناارام او نااسوده حالت دی.

کوچني شاهزاده وویل:

- د خدای په امان.

گل ورته وویل:

- په مخه دي ښه.

# نولسمه برخه

کوچنی شاهزاده یو لوړ غره ته وخوت. ده پخوا هېڅ مهال غرونه وو لیدلي. پرته دده له هغو دریو اورشیندو غرونو څخه، چې دده تر زنگانه پورې ول. له مړ شوي اورشیندي غره څخه ده د څوکۍ په توګه کار اخیست. ده اوس له ځان سره داسې فکر وکړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- له داسې لوړ غره څخه زه سملاسي ټول ګرزنده ستوري او ټول خلک

ليدلای شم. خو ده يوازې د ستنو په شان نري او تېره لاښونه (کمرونه) وليدل.

پر دې مهال ده د هر حال لپاره داسې وويل:

- ورځ مو په خير.

غږ يې انګازه وکړه:

- خير...خير...خير...

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوچني شاهزاده وپوښتل:

- تاسو څوک یاست؟

غږ یې داسې انګازه وکړه:

- څوک یاست...څوک یاست...څوک یاست...

کوچني شاهزاده وویل:

- راځه چې سره ملګري شو ، زه بېخي یوازې یم.

غږ یې بیا انګازه وکړه:

- یوازې یم...یوازې یم...یوازې یم...

کوچني شاهزاده له ځان سره داسې فکر وکړ:

- عجیب ګرزنده ستوری دی ! بېخي وچ کلک ، له اغزیو ډک او

مالګین دی. د خلکو هم فکر کار نه کوي، هغوی یوازې هغه څه تکراروي، څه چې هغوی ته وویل شي... ما په کور کې ښکلی او ګلالی ګل درلود چې ماته یې خوشالي راکوله، هغه تل لومړی پر خبرو پیل کاوه.


(c) ketabton.com: The Digital Library

# شلمه برخه

کوچنی شاهزاده ډېر وخت د شګو، لاښونو او واورو له لارې روان وو، خو وروسته يې لار پيدا کړه. ټولې لارې خلکو ته ورغلې دي. ده وويل:

- ورځ مو په خېر.

د ده په مخ کې يو ګلبڼ وو چې له ګلابو ډک وو.



ګلابو هم ځواب ورکړ:

- ورځ دې په خېر.

کوچني شاهزاده وليدل چې هغوی ټول د ده ګل ته ورته دي. ده په ډېرې حيرانتيا سره پوښتنه وکړه:

- تاسې څوک ياست؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

گلابو ځواب ورکړ:

- موږ د گلابو گلونه یو.

کوچني شاهزاده په ټیټ غږ وویل:

- ښه، ښه.

ده خپل ځان ډېر کمبخته احساس کړ. د ده ښکلي گلاب ده ته ویلي وو چې د هغه په شان گل په ټوله پېنۍ (کایناتو) کې نشته. خو دغه دي، د ده په مخ کې هماغه ډول پېنځه زره گلان یوازې په یو گلبڼ کې دي!

کوچني شاهزاده له ځان سره فکر وکړ:

- که چیري زما گلاب دا گلونه وویني، نو ځومره به خپه شي. هغه به

ډېر سخت ټوخېدلی وای او ځان به یې داسې ښوولی وای چې مړ به شي، خو وبه نه غواړي چې د خندا وړ ښکاره شي. زه به دې ته اړوتی وای چې په ده پسې سم وگرزم، لکه په ناجوړه پسې. کنه نو هغه به په رښتیا هم مړ شوی وای او دا یوازې د دې لپاره چې ما سپک کړي...

وروسته هغه داسې فکر وکړ:

- ما لا داسې فکر کاوه، زه داسې یو گل لرم چې په نړۍ کې یې بل

هېڅوک نه لري، خو هغه یو عادي گلاب وو. ما ټول ټال همدغه یو عادي گلاب او درې اورشیندي غرونه لرل چې لوړوالی یې زما تر زنگانه پورې وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له هغوی نه یې یو مړ شوی، اور نه غورځوي، ښايي چې د تل لپاره مړ پاتې شي...دا نو زه څه ډول شاهزاده یم؟..

هغه په واښو کې څملاست او په ژړا شو.

# یوویشتمه برخه

پر دې مهال یو ګیدړ راپیدا شو. هغه وویل:

- ستړی مه شې.

کوچني شاهزاده په ادب ځواب ورکړ:

- ته هم ستړی مه شې.



خو کله چې یې شاوخوا وکتل، نو هېڅوک یې ونه لید. بیا داسې یو غږ واوربدل شو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- زه دلته یم، د مڼې د ونې لاندې یم...

کوچني شاهزاده ترې وپوښتل:

- ته څوک یې؟ ته څومره ښایسته یې !

ګیدړ ځواب ورکړ:

- زه ګیدړ یم.

کوچني شاهزاده ترې هیله وکړه:

- له ما سره ساتېري وکړه، زه ډېر زړه تنګی شوی یم...

ګیدړ وویل:

- زه نه شم کولای چې له تا سره ساتېري وکړم، ځکه چې روږدی شوی نه یم.

کوچني شاهزاده وویل:

- وی، وبښه.

خو بیا یې یو څه فکر وکړ او پوښتنه یې ترې وکړه:

- روږدي کول، یانې څه؟

ګیدړ پوښتنه ترې وکړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ته د دې ځای نه یې. ته د لته څه شی لټوې؟

کوچني شاهزاده ورته وویل:

- خلک لټوم. دا روږدي کول یانې څنګه؟
- خلک توپکونه لري، له توپکونو سره ښکار ته ځي. دا ډېر د ناارامۍ

حالت دی ! همدا راز هغوی چرګان روزي او ساتې یې. یوازې په همدې کار باندې هغوی ښه خلک دي. ته چرګان لټوې؟

کوچني شاهزاده وویل:

- نه، زه ملګري لټوم. روږدي کول یانې څنګه؟
- دا ډېره پخوانۍ هېره شوې مانا ده. روږدي کول یانې د دوستۍ د

اړیکو جوړول او ټینګول.

- اړیکي؟

ګیدړ وویل:

- هو، ته زما لپاره تر اوسه لا یوازې د نورو سلو زرو کوچنیو هلکانو

په څېر یو هلک یې، او ته زما په کار نه یې. زه هم ستا په کار نه یم. زه ستا لپاره کټ مټ هماغسې د نورو سلو زرو ګیدړو په څېر یوه ګیدړه یم. خو که چیري ته ما روږدی کړې، موږ به د یو بل په کار شو. ته به زما لپاره په ټوله

(c) ketabton.com: The Digital Library

نړۍ کې یوازینی هغه څوک شې، چې زما لپاره اړین دی، او زه به ستا لپاره په ټوله نړۍ کې همدغسې یو څوک شم...

کوچني شاهزاده وویل:

- اوس پرې پوه شوم. یو ګلاب شته...ښایي چې هغه زه روږدی کړی

یم...

ګیدړ ورسره هوکړه وکړه او ویې ویل:

- ښایي چې همداسې وي. پر ځمکه هر ډول پېښې پېښېدونکې دي.

کوچني شاهزاده وویل:

- دا پېښه په ځمکه کې نه وه.

ګیدړ ډېر هېښ شو.

- نو په بل ګرزنده ستوري کې وه؟
- هو.
- په هغه ګرزنده ستوري کې ښکاریان شته؟
- نه، نشته.
- څومره په زړه پورې ! چرګان پکې شته؟
- نه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



گیدړ سوړ اسویلی وایست او ویې ویل:

- په نړۍ کې بشپړتیا نشته. نړۍ نیمګړې ده.

خو وروسته یې بیا پر خبرو پیل وکړ:

- زما ژوند خپه کوونکی دی. زه د چرګانو ښکار کوم، خو خلک زما ښکار کوي. ټول چرګان یو ډول دي، خلک هم ټول یو ډول دي. زما ژوند خسته کوونکی دی. که چیري ته ما روږدی کړې، نو زما ژوند به د لمر په شان وځلیږي. ستا ګامونه به زه په زرګونو ګامونو کې پېژنم او له نورو څخه به توپیر ورکولای شم. کله چې د خلکو د ګامونو غږ واورم، زه تل تښتم او پټېږم. خو ستا تګ به لکه ټنګ ټکور ما ځان ته وربولي، او زه به له خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library

پناځای څخه راوزم. وګوره ! وينې يې، هاغلته په پټيو کې غنم پخېږي؟ زه غنم نه خورم. د غنمو وږي زما نه دي په کار. د غنمو پټي زما لپاره کومه مانا نه لري. دا خپه کوونکې حالت دی ! خو ته طلايي وېښتان لرې. څومره به ښه وي چې ته ما روږدی کړې ! طلايي غنم به ماته تا رايادوي، او د باد د لګېدو پر مهال به د غنمو د وږيو پر غږ مين شم...

ګيدړ چوپ شو او په ځنډ سره يې کوچني شاهزاده ته کتل. وروسته يې وويل:

- هيله کوم...ما روږدی کړه !

کوچني شاهزاده په ځواب کې وويل:

- زه به ډېر خوښ وای، خو خبره دا ده چې زه ډېر لږ وخت لرم. زه بايد ملګري پيدا کړم او په بېلابېلو شيانو ځان پوه کړم.

ګيدړ وويل:

- يوازې په هغو شيانو کېدای شي سړی ځان پوه کړي چې روږدي يې کړي. خلک اوس د دې لپاره هم وخت نه لري چې پر کومو شيانو ځان پوه کړي او ويې پېژني. هغوی په هټيو کې ټول شيان چمتو شوي رانيسي. خو داسې هټۍ نشته چې په هغوی کې دي ملګري وپلورل شي، ځکه خو خلک ملګري نه لري. که چيري غواړې چې ملګري ولرې، نو ما روږدی کړه !

کوچني شاهزاده ورته وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د دې لپاره څه کول په کار دي؟

ګیدړ وویل:

- باید چې حوصله دې لویه او پرخه کړې. لومړی هلته وړاندې په

واښو کې کېنه، داغسې. زه به تا ته د سترګو په کونجو ګورم، خو ته چوپ کېنه او څه مه وایه. خبرې د یو بل په پېژندلو کې سرې ته مزاحمت کوي. خو هره ورځ لږ لږ رانږدې کېږه او نږدې را ته کېنه...

سبا کوچنی شاهزاده بیا هماغه ځای ته راغی. ګیدړ له کوچني شاهزاده نه داسې هیله وکړه:

- ښه به دا وي چې تل پر هماغه یو مهال راشې. د ساري په توګه، که

چيري تل پر څلورو بجو راشې، نو زه به له دریو بجو نه ځان نېکمرغه احساسوم. څومره چې ساعت ټاکل شوي مهال ته رانږدې کیږي، هماغومره به زه ډېر نېکمرغه کېږم. پر څلورو بجو به زه اندېښمن کېږم. زه به د نېکمرغۍ پر ارزښت پوه شم! خو که چیري ته هر ځل بل مهال راشې، زه به پر دې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهېږم چې کوم ساعت او څو بجو ته خپل زړه چمتو کړم..اړینه ده چې دود او رواج مراعت شي.

کوچني شاهزاده وپوښتل:

- دود او رواج څه شی دی؟

گیدړ داسې ورته تشریح کړه:

- دا هم له پخوا نه داسې پاتې شوي کوم څه ته وايي چې د هغه لامله یوه ورځ د نورو ټولو ورځو په شان نه وي او نورو ټولو ورځو ته ورته نه وي. یا یو ساعت نورو ټولو ساعتونو ته ورته نه وي. د ساري په توگه، هغه ښکاریان چې زما ښکار کوي، هغوی داسې یو رواج لري چې هره پېنځنۍ (پنجشنبه) د کلي له نجونو سره نڅېږي. د پېنځنۍ ورځ زما لپاره څومره ښه ورځ ده! پر دغه ورځ زه چکر وهم او د چکر پر مهال د انگورو بڼ ته ځم. خو که چیري د ښکاریانو هر وخت چې زړه غوښتلای پر هماغه ورځ یې نڅا کولای او ورځ یې مالومه نه وای، نو ټولې ورځې به یو شان وې، او ما به هېڅ مهال دمه نه شوای کولای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوچني شاهزاده په دې ډول ګیدړ روږدی کړ. اوس نو د خدای په امانۍ وخت راورسېد.

ګیدړ سوړ اسویلی وایست او ویې ویل:

- زه به په تا پسې وژاړم.

کوچني شاهزاده ورته وویل:

- خو ته پخپله ملامت یې. ما خو نه غوښتل چې ته غمجن او خپه شې، تا پخپله غوښتل چې زه تا روږدی کړم...

ګیدړ وویل:

- هو، دا خبره رښتیا ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- خو ته به وژاړې !
- هو، خود به وژاړم.
- مانا دا به ستا لپاره خواشينوونکې وي.

ګيدړ وويل:

- نه، زما لپاره به ښه وي. هغه خبرې دې په ياد راوړه چې ما تا ته د

طلايي وربيو په اړه کړې وې.

هغه چوپ شو. وروسته يې زياته کړه:

- راشه يو ځل بيا ګلابو ته وګوره. ته به پر دې پوه شې چې ستا ګلاب

په نړۍ کې يوازينى ګلاب دى او بل داسې ګلاب نشته. کله چې د خداى په امانۍ لپاره بېرته راستون شې، زه به تا ته يو راز څرګند کړم. دا به ستا لپاره زما يوه ډالۍ وي.

کوچنى شاهزاده ولاړ چې ګلاب وګوري.

کوچني شاهزاده هغوى ته وويل:

- تاسې زما ګلاب ته لږ هم ورته نه ياست. تاسې لا تر اوسه هېڅ هم نه

ياست. تاسې هېچا روږدي کړي نه ياست او تاسو هم هېڅوک روږدى کړى نه دى. زما ګيدړ هم پخوا همدغسې وو. هغه له نورو سلګونو زرو ګيدړانو څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

هېڅ تو پیر نه درلود. خو ما له هغه سره ملګرتیا او دوستي وکړه او اوس هغه په ټوله نړۍ کې یوازینی دغسې روړدی ګیدړ دی.

ګلاب وشرمېدل او سرونه یې ښکته واچول. کوچني شاهزاده خبرو ته دوام ورکړ:

- تاسې ښکلي یاست خو تش یاست. د سړي زړه نه غواړي چې ستاسو په خاطر ځان مړ کړي.

ښکاره خبره ده چې که تصادفي لاروی زما ګلاب ووینې، نو وبه وایي چې هغه کټ مټ همداسې دی لکه تاسې چې یاست. خو زما لپاره هغه تر تاسو ټولو ډېر ارزښت لري. ما خو هغه ته هره ورځ اوبه ورکولې، تاسې ته خو مې نه درکولې. ما هغه په ښیښه یې پوښ باندې پټاوه، نه تاسې. ما له هغه نه شاوخوا پرده راتاووله چې له باده وساتل شي. ما د هغه لپاره پیشوګۍ (مور) وژلې، یوازې دوه یا درې مې پرې ښوولې چې پر پتنګ بدلې شي. ما اورېده چې هغه څنګه شکایت کاوه او ډوسې یې ویشتلې، ما هغه ته ان هغه مهال هم غوږ نیوه چې دی به چوپ وو. هغه زما ګلاب دی.

تر دې وروسته کوچنی شاهزاده ګیدړ ته راستون شو او ورته ویې ویل:

- د خدای په امان...

ګیدړ هم وویل:

- د خدای په امان. زما راز دا دی، هغه ډېر ساده دی: یوازې د زړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

سترګې ویښې او تېزې دي. تر ټولو مهم شیان د سر پر سترګو نه لیدل کیږي.

کوچني شاهزاده همدا خبرې تکرار کړې:

- د دې لپاره چې سړی یې ښه په یاد وساتي، تر ټولو مهم شیان د سر پر سترګو نه لیدل کیږي.

- ستا ګلاب تا ته ځکه دومره ارزښت لري چې تا خپل ټول مهال هغه ته ورکاوه.

کوچني شاهزاده بیا خبرې تکرار کړې:

- د دې لپاره چې ښه یې په یاد کې وساتم، ما خپل ټول مهال هغه ته ورکاوه...

ګیدړ وویل:

- خلکو دا رښتیا هېره کړې، خو ته یې مه هېروه. ته د تل لپاره د هغو ټولو په وړاندې ځواب ویونکی او پازوال یې چې تا روږدي کړي دي. ته د خپل ګلاب په وړاندې پازوال یې.

کوچني شاهزاده دا خبرې تکرار کړې:

- د دې لپاره چې ښه یې په یاد ولرم، زه د خپل ګلاب په وړاندې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پازوال یم...

# دوویشتمه برخه

کوچني شاهزاده وویل:

- ورځ مو په خیر.

د رېلګاډو د پټلیو بدلوونکي ځواب ورکړ:

- ورځ دې په خیر.

کوچني شاهزاده ترې وپوښتل:

- ته څه کوې؟

د رېلګاډو پټلیو بدلوونکي په ځواب کې ورته وویل:

- مسافر شمېربندي کوم. په هر رېلګاډي کې زر زر کسان لېږم، یو رېلګاډی ښۍ خواته او بل کیڼې خواته لېږم.

پر دې مهال یو ګړندی رېلګاډی، چې کړکۍ یې روښانه وې، په داسې ګړبهار سره تر څنګ تېر شو چې د پټلیو بدلوونکي څارخونه یې ټوله سره ولړزوله.

کوچني شاهزاده وویل:

- څومره بېړه لري! هغوی څه شی لټوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پتېلیو بدلوونکي وویل:

- پخپله د رېلګاډي چلوونکی هم پر دې نه پوهېږي.

لږه شېبه وروسته بل لور ته هم یو بل ګړندی رېلګاډی، چې څراغونه یې روښان ول، له ګړبهار سره تېر شو. کوچني شاهزاده وپوښتل:

- هغوی اوس راستنېږي؟

د پتېلیو بدلوونکي ورته وویل:

- نه، دا بل دی. دا له هغې خوا راتلونکی رېلګاډی دی.
- د هغوی لپاره هغه ځای چې دوی پخوا پکې ول، ښه نه دی؟

پتېلۍ بدلوونکي وویل:

- چیرته چې موږ نه یو هغه ځای ښه دی.

پر دې مهال دریېیم ګړندی رېلګاډی، چې رڼا یې کوله په ګړبهار سره تېر شو. کوچني شاهزاده وویل:

- دوی غواړي چې په هغو لومړنیو رېلګاډو پسې ځانونه ورسوي؟

پتېلۍ بدلوونکي وویل:

- هغوی هېڅ شی نه غواړي. هغوی په ډبو کې ویده دي، یا خو

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدا اسې ناست دي او اربږمي کاږي. يوازې ماشومانو خپلې پوزې په کړکيو پورې ټينګې نيولې دي.

کوچني شاهزاده په ټيټ غږ وويل:

- يوازې ماشومان په دې پوهېږي چې څه شی لټوي. هغوی خپلې

ټولې ورځې او مهال هغې ګوډۍ ته ورکوي چې له ټوکره جوړه شوې او هغه د هغوی لپاره ډېر ارزښت لري، او که چيري څوک ورنه دا ګوډۍ واخلي، نو ماشومان ژاړي...

پټلۍ بدلوونکي وويل:

- دا د هغوی نېکمرغي ده.

## دروېشتمه برخه

کوچني شاهزاده وويل:

- ورځ مو په خېر.

سوداګر ځواب ورکړ:

- ورځ دي په خېر.

هغه داسې نوې ګولۍ پلورلې چې تنده ماتوي. که چيري دا ډول يوه ګولۍ وخورې نو بشپړه اوونۍ سړی نه تږی کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوچني شاهزاده له سوداګر نه وپوښتل:

- ته دا د څه لپاره پلورې؟

سوداګر ځواب ورکړ:

- دا ګولۍ د سړي وخت ډېر نه ضايعه کوي. د ځانګړپوهانو د شمېر له مخې، سړی کولای شي چې په اوونۍ کې درې پنځوس دقيقې وخت وسپموي.

- په دغو درې پنځوس دقيقو کې سړی څه وکړي؟
- څه شی چې غواړي.

کوچني شاهزده له ځان سره فکر وکړ:

- که چيري ما درې پنځوس دقيقې وزګار وخت درلوداى، زه به چينې ته تللى واى...

# څلېرويشتمه برخه

له هغه مهاله چې د خرابۍ لامله ما الوتکه پر ځمکه کېنولې يوه اوونۍ تېره شوه، د ګوليو د سوداګر په اړه مې خبرو ته د غوږ نيولو پر مهال د خپلو اوبو وروستی غړپ وڅښه.

ما کوچني شاهزاده ته وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- هو ، د ټول هغه څه په اړه چې ته کیسه کوې، ډېر په زړه پورې دي،

خو ما لا تر اوسه الوتکه نه ده جوړه کړې، او به ټولې خلاصې شوې، یو غړپ هم نه دی پاتې، که چیري مې کولای شوای چې کومې چینې ته ولاړ شم، زه به هم نېکمرغه وای.

- هغه ګیدړ چې زه یې ملګری شوی یم...
- زما ګرانه، زه اوس ستا د ګیدړ لپاره وخت نه لرم !
- ولې؟
- ځکه چې زه له تندې مړ کېږم...

هغه پوه نه شو ، دا په دې پورې څه اړه لري. ځکه یې خبره رد کړه:

- ښه، که چیري ته کوم مهال ملګری ولرې، پرېږده چې د هغه په خاطر

مړ شې. زه ډېر خوشاله یم چې له ګیدړ سره مې ملګرتیا وشوه...

«هغه پر دې نه پوهېږي چې څومره لوی خطر دی. هغه هېڅ مهال نه تنده لیدلې او نه هم لوږه. د هغه لپاره د لمر وړانګه بس ده...»

ما دا خبرې پر لوړ غږ ونه کړې، یوازې مې همداسې فکر وکړ. خو کوچني شاهزاده ماته وکتل او ویې ویل:

- زه هم تږی شوم...راځه چې څاه ولټوو...

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما د ستړیا په حالت کې هغه ته وویل چې په دې بې پایه دښته کې په اټکل سره د څاګانو لټول څه ګټه لري؟ خو موږ بیا هم د څا په لټه پسې روان شو.

موږ ډېر مهال چو په خوله روان وو. بالاخره تیاره شوه او په هسک کې ستوري وځلېدل. زه د تندې له لاسه لږ تبجن شوم او ماته داسې ښکارېده، لکه زه چې ستوري په خوب کې وینم. د کوچني شاهزاده خبرې مې پرله پسې په یاد راتلې او ما ترې وپوښتل:

- یانې ته هم پوهېږې چې تنده څه شی ده؟

خو هغه ځواب را نه کړ. یوازې دومره یې وویل:

- د زړه لپاره هم اوبه اړینې وي...

زه پوه نه شوم، خو چوپ شوم. خو دومره پوه شوم چې له هغه نه باید نورې پوښتنې ونه کړم.

هغه ستړی شو او پر شګه کېناست. زه یې هم تر څنګ کېناستم. موږ چوپ ناست وو، وروسته یې وویل:

- ستوري ډېر ښکلي دي، ځکه چې هلته په کوم ځای کې یو ګل دی،

که څه هم لیدل کیږي نه...

ما یوازې دومره وویل:

- هو، ښکاره خبره ده. ما شګې ته کتل چې د سپوږمۍ د رڼا لامله

(c) ketabton.com: The Digital Library

رونښانه ښکارېده.

کوچنی شاهزاده زیاته کړه:

- دښته هم ښکلې ده...

دا رښتیا ده. زما تل دښته خوښېده. د شګو پر غونډۍ چې کېنې. هیڅ شی نه لیدل کیږي. هېڅ غږ نه اورېدل کیږي او چوپه چوپتیا وي... هغه وویل:

- ته پوهېږې چې دښته څه ښه والی لري؟ ښه والی یې دا دی چې په

ځینو پټو ځایونو کې چینې لري...



زه ډېر هېښ شوم. ناڅاپه پر دې پوه شوم چې ولې شګه اسرارامېزه ځلا کوي. کله چې زه کوچنی هلک وم، ما په یو ډېر زاړه کور کې ژوند کاوه. داسې ویل کېدل چې په دغه کور کې خزانه پټه ده. خو دغه خزانه هېچا را ونه سپړله، ښایي چې هېچا لټولې نه وي. د دغې خزانې لامله کور داسې وو لکه چا چې پرې کوډې کړې وي. هغه په خپل زړه کې یو راز پټ کړی وو...

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما وویل:

- هو، که کور دی، که ستوري دي او که دښته، په هغوی کې تر ټولو ډېر ښه هغه څه دي چې په سترګو نه لیدل کیږي.

کوچني شاهزاده وویل:

- زه ډېر خوشاله یم چې ته زما له ملګري ګیدړ سره هوکړه لرې.

وروسته هغه ویده شو. ما هغه په غېږ کې واخیست او رهي شوم. زه په ولولو او هیجان کې وم. ماته داسې ښکارېده چې زه یوه نازکه او قیمتي خزانه په غېږ کې وړم. ماته ان داسې ښکارېده چې په ځمکه کې تر ده بل نازک موجود نشته. د سپوږمۍ په رڼا کې ما د هغه تندي ته، چې رنګ یې الوتی او زېړ وو، او د هغه کږو بانوګانو ته مې کتل، د هغه د وېښتانو طلایي کاکول ته مې کتل چې باد یوې او بلې خواته واهه او له ځان سره یې داسې ویل:

- دا ټول یوازې پوښ دی. تر ټولو ارزښتناک هغه څه دي چې په سترګو یې نه شې لیدلای او نه لیدل کیږي...

د هغه نیمې پرانیستې شونډې په موسکا کې ولړزېدې او ما له ځانه سره وویل:

- په دغه ویده کوچني شاهزاده کې تر ټولو ډېره هیجان راپاروونکې

(c) ketabton.com: The Digital Library

او اغېز ښندونکې د ده ژمنتیا (وفاداري) ده چې ګل ته یې لري، د هغه ګلاب څېره چې په ده کې د څراغ د لمبې په شان بلیږي، ان هغه مهال هم کله چې ده ویده وي...

زه پر دې پوه شوم، دی لکه څومره چې ښکاري تر هغه هم نازک دی. څراغونه باید وساتل شي، ځکه کېدای شي چې د باد په لګېدو سره مړه شي...

زه همداسې روان وم....او د ګهیځ په سپېدو کې تر څاه پورې ورسېدم.

# پېنځویشتمه برخه

کوچني شاهزاده وویل:

- خلک ګړندیو رېلګاډو ته خېژي، خو هغوی پخپله هم نه پوهېږي

چې څه شی لټوي، ځکه خو هغوی ارام نه دي، کله یو لور ته ځغلي او کله هم بل لور ته...

بیا یې زیاته کړه:

- هر څه عبث دي...

هغه څاه چې موږ ورته راغلو ، د صحرا د لویې دښتې د نورو ټولو څاګانو په شان نه وو. مامولن دلته څا په شګه کې هسې یوه کنده وي. خو دا سم اصلي کلیوالي څا وو. دلته هیچیري کلي نه ول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما داسې فکر وکړ چې زه خوب وينم. ما کوچني شاهزاده ته وويل:

- عجيبه کار دی، دلته هر څه چمتو دي: څرخ، سلواغه او پړی تول

جوړ دي...

هغه په خندا شو. پړی يې کش کړ چې څرخ وګرزي. څرخ داسې وچ غږ وکړ لکه بادنما چې ډېر مهال د باد د نه لګېدو لامله زنګو وهلې وي.

کوچني شاهزاده وويل:

- اورې يې؟ موږ څاه راويښ کړ او هغه په سندرو ويلو پيل وکړ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه له دې ډاربدم چې دی سترې کيږي. ما ورته وويل:

- ماته يې راکړه، اوبه به زه راوباسم، ستا زور پرې نه رسيږي.

له څاه څخه مې ورو ډکه سلواغه راوايسته او د څاه پر څنډه مې داسې کېښوده چې چپه نه شي. زما په غوږونو کې د څرخ وچ غږ لا سندرې ويلې، په سلواغه کې اوبه رېږدېدلې او د لمر وړانګو پکې نڅا کوله. کوچنی شاهزاده وويل:

- زه غواړم چې دا اوبه وڅښم. اوبه راکړه چې تنده پرې ماته کړم...

زه پوه شوم چې ده څه شی لټول!

ما سلواغه د ده شونډو ته ورنږدې کړه. ده سترګې پټې کړې او د اوبو په څښلو يې پيل وکړ. د اوبو څښل داسې وو لکه يوه ډېره ښه مېلمه چې وي. دا عادي اوبه نه وې. هغه تر ستوريو لاندې له ډېرې اوږدې لارې نه، د څرخ له وچ غږ نه، او زما د لاسونو له زياره راپيدا شوې. هغوی د زړه لپاره د يوې ډالۍ په شان وې. کله چې زه کوچنی وم، نو د کرېس مېس ډالۍ زما لپاره همدغسې ځلېدلې. د سبر په نيالګي کې د څراغونو ځلا، د نيمې شپې د ارګان موسيقۍ الې غږ، مهربانه موسکاوې همدغسې ماته ځلېدلې.

کوچني شاهزاده وويل:

- ستا په ګرزنده ستوري کې خلک په يوه ګلبڼ کې پېنځه زره ګلابه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کري او روزي يې...خو هغه څه نه شي موندلای چې لټوي يې...ما هم له ده سره هوکړه وکړه:

- نه يې شي موندلای، همداسې ده.
- هغه څه چې دوی لټوي کېدای شي چې په يوازيني گلاب، او د اوبو

په يوه غړپ کې وموندل شي.

ما ورسره هوکړه وکړه: هو همداسې ده.

کوچني شاهزاده وويل:

- خو سترگې ړندې دي. بايد چې په زړه باندې لټول وشي.

ما اوبه وڅښلې، سا مې ارامه شوه. د لمرختو پر مهال د شگې رنگ د شاتو په څېر طلايي شي. له دې لامله هم زه نېکمرغه وم. نو ولې سړی زړه تنگی شي؟..

کوچنی شاهزاده بيا زما ترڅنگ کېناست، په نرم او مهربان غږ سره يې ماته وويل:

- ته بايد پر خپله ژمنه کلک ودرېږې.
- کومه ژمنه؟
- په ياد دي دي...تا ژمنه کړې وه...چې ماته به زما د وري لپاره کڅپوز

راکوې...زه خو د هماغه گل په وړاندې پازه لرم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما له جېبه خپل انځورونه را وايستل. کوچني شاهزاده هغوی ته وکتل او ويې خندل:

- ستا «اډانسونيا ډيجيتاټا» کرم ته ورته دي...

ما خو پر خپلو «اډانسونيا ډيجيتاټا» باندې وياړ کاوه !

د ګيدړې غوږونه ستا غوږونو ته ورته دي... کټ مټ لکه ښکرونه دا سې دي ! ځومره اوږده دي !

دی بيا په خندا شو.

- ته په حق نه يې ملګرکيه. ما هېڅ مهال رسامي نه شو کولای.

يوازې بوا (لوی ماران) مې دننه او د باندې خوا نه رسولای شوای. خو هغه زه

ارام کړم او ويې ويل:

- پروا نه کوي، ماشومان يې پېژني او پرې پوهېږي.

ما د وري لپاره کتېپوز رسم کړ. رسم مې کوچني شاهزاده ته ورکړ او زړه مې پر وسو.

- ته د کوم څه په اړه فکر کوې خو ماته يې نه وايې...

خو هغه ځواب را نه کړ. وروسته يې وويل:

- ته پوهېږې... سبا له هغې ورځې نه يو کال تېرېږي چې زه تاسو ته،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځمکې ته راغلی یم...بیا چوپ شو. لږه شېبه وروسته یې زیاته کړه:

- زه دې ځای ته نږدې راولوېدم...

رنګ یې سور شو.

خدای شته زما زړه یو ځل بیا خپه شو ، نه پوهېږم ولې. خو ما بیا هم پوښتنه ترې وکړه:

- یانې یوه اوونۍ دمخه، پر هغه سهار چې ما او تا سره وپېژندل،

ته د خلکو د اوسېدو له سیمې څخه زر میله لرې تصادفي یوازې نه ګرزېدې؟

کوچنی شاهزاده له شرمه نور هم سور شو.

خو ما لږ په بې جرئتۍ سره زیاته کړه:

- دا په دې خاطر چې یو کال پوره کیږي؟..

هغه بیا سور شو او زما یوې پوښتنې ته یې هم ځواب را نه کړ، خو دا چې سړی سور شي مانا «هو» ، همداسې نه ده؟

ما وویل:

- زه ناارامه یم.

خو هغه وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ستا د کار مهال راورسېد. خپل ماشين [الوتکې] ته ور شه. زه به دلته تاته منتظر اوسم. سبا ماښام ته بيا راشه...

خو زه ارام نه شوم. زما ګيدړ په ياد راغی...کله چې سړی له چا سره روږدی شي، نو وروسته داسې هم پېښېږي چې سړي ته ژړا راولي.

# شپږويشتمه برخه

څاه ته نږدې د لرغوني ډبرين دېوال کنډوالې ساتل شوې دي. بله ورځ ماښام، کله چې ما کار پای ته ورساوه، زه راستون شوم او کوچنی شاهزاده مې له لرې وليد چې د دېوال پر څنډه ناست او پښې يې ځوړند کړې دي. ما يې غږ واورېد. ده ويل:

- ايا ستا په ياد نه دي؟ هغه خو دلته نه وو.

داسې ښکارېده چې د ده پوښتنو ته کوم چا ځواب وايه:

- هو، پوره يو کال دمخه وو، خو دلته نه په بل ځای کې وو...

ما خپل تګ ګړندی کړ. دېوال ته نږدې مې بل څوک ونه ليد او د کوم چا غږ مې هم وا نهورېد. خو پر دې مهال کوچني شاهزاده بيا کوم چاته داسې ځواب ورکړ.

- نو ښکاره خبره ده. ته به په شګه کې زما پلونه پيدا کړې، او هماغلته

(c) ketabton.com: The Digital Library


ماته منتظر شه. زه نن شپه هماغلته درځم.

تر دېواله شل متره واټن پاتې وو، خو ما لا هېڅوک ونه لیدل. تر یوې لنډې شېبې چوپتیا وروسته کوچني شاهزاده وپوښتل:

- ستا زهر ښه دي؟ ډېر خو به مې نه کړوي؟

زه ودرېدم او زړه مې ډېر پر وسو، خو زه لا پوه شوی نه یم. کوچني شاهزاده وویل:

- اوس نو ځه ولاړ شه. زه غواړم چې له دېوال نه ښکته ټوپ کړم.



(c) ketabton.com: The Digital Library

تر دې وروسته چې کله ما لاندې ځمکې ته وکتل، ناڅاپه مې ټوپ کړل ! د دېوال بېخ ته يو کوچنی زيړ مار، چې چيچنه يې په نيمه دقيقه کې سړی وژني، تاو شوی، سر يې کوچني شاهزاده ته ورپورته کړی او پروت وو. ما جېب ته لاس کړ چې توپانچه راوباسم، مار ته مې ورمنډه کړه، زما د ګامونو له غږ نه کوچنی مار د وچېدونکې لښتي په شان ورو ورو پر شګه روان شو، د کوچنۍ فلزي زنګولې په شان غږ يې ايله په ايله اوربدل کېده، چې بې له بېړې په ډبرو کې پټ شو.

ما دېوال ته پر ښه مهال ورمنډه کړه او کوچنی شاهزاده مې په غېږ کې ونيو. دی له واورې نه هم سپين اوښتی وو. ما غږ پر وکړ:

- کوچنيه، څه دې په فکر کې دروګرزېدل ! له مارانو سره د څه په خاطر خبرې پيلوې او خبرې کوې؟

ما د ده د غاړې طلايي دسمال راخلاص کړ، د مخ کينډ او ښی ماتې مې ورته پر اوبو لانده کړل او دې ته مې اړ ايست چې اوبه وڅښي. نورې پوښتنې مې ترې ونه کړې. هغه ما ته جدي وکتل او زما تر غاړې يې لاسونه راتاو کړل. ما د ده د زړه درزا اورېده. د ده زړه داسې ټوپونه وهل لکه د ويشتل شوې مرغۍ زړه. بيا يې وويل:

- زه ډېر خوشاله يم چې تا د خپل ماشين خرابي ومونده. اوس ته کولای شې چې کور ته ستون شې...

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ته له څه پوه شوې؟!

ما په همدې شېبه کې غوښتل ده ته ووایم چې له دومره انتظار سره سره مې وکولای شو چې د الوتکې خرابي ترمیم کړم!

ده ځواب را نه کړ، خو یوازې دومره یې وویل:

- زه هم نن کور ته ستنېږم.

بیا یې په خواشینۍ سره ویل:

- دا ډېر لرې او ډېر ستونزمن دی...

هر څه یو ډول حیرانوونکي ول. ما هغه لکه د یو ماشوم په څېر په غېږ کې کلک نیولی وو، خو ماته داسې برېښېده چې دی له ما څخه ښویږي، لکه کوم لوی پاڼ یا ژور ګرداو چې یې را څخه کشوي، او ما دا وس نه درلود چې کلک یې ونیسم...هغه په چورت کې ډوب او کوم لرې ځای ته یې کتل.

- له ما سره ستا وری، د وري لپاره صندوق او د هغه کتپوز پاتې

کیږي...

هغه غمجنه موسکا وکړه.

ما ډېر ځنډ انتظار ورته وایست. هغه داسې ښکارېده لکه په سد کیږي چې، یا لکه پر حال چې راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- کوچنیه، ته وډار شوې...

ښکاره خبره ده چې وډار شو ! خو ورو په خندا شو:

- ننني ماښام به زما لپاره ډېر ډاروونکی وي...

زما زړه ماته د بدبختۍ گواهي راکوله. ایا زه به د ده خندا نوره هېڅ وانه ورم، ایا زه به یې هېڅ وانه ورم؟ د ده خندا زما لپاره داسې ده لکه په دښته کې چینه.

- کوچنیه، زه غواړم چې ستا خندا نوره هم واورم...

خو هغه وویل:

- نن شپه یو کال پوره کیږي. زما ستوری به د هغه ځای له پاسه راشي

چیرته چې زه ترې رالوېدلی وم...

کوچنیه، غوږ ونیسه. دا ټول څه لکه مار، له ستوري سره لیدنه دا هسې خوشې خوب دی، خو همداسې به وي، رښتیا ؟

هغه ځواب را نه کړ. لږه شېبه وروسته یې وویل:

- تر ټولو مهم هغه څه دي چې په سترگو نه لیدل کیږي...
- هو، ښکاره خبره ده...
- دا لکه د گل په اړه. که چیري تا ته هغه گل گران وي چې چیرته لري په

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوم ستوری کې دی او لویږي، نو ډېره په زړه پورې ده چې سړی په شپه کې هسک ته وګوري. د شپې له خوا ټول ستوري غوړېږي.

- هو، خود...

دا لکه د اوبو په اړه. کله چې تا ماته اوبه راکړې او ما تنده پرې ماته کړه، نو اوبه زما لپاره داسې وې لکه د ټنګ ټکور غږ، دا ځکه چې موږ هغوی د څرخ او پړي په مرسته راوایستلې... په یاد دي دي؟ هغه ډېرې ښې اوبه وې.

- هو، خود...
- ته د شپې ستورو ته وګوره. زما ستوری ډېر کوچنی دی، زه یې نه شم

کولای چې تاته یې دروښیم. داسې به ښه وي. هغه به ستا لپاره له ستوریو څخه یو ستوری وي. ستورو ته کتل به ستا ډېر خوښ شي...هغوی به ټول ستا ملګري شي...وروسته بیا زه تاته کوم څه د ډالۍ په توګه درکوم...

هغه په خندا شو.

- اخ، کوچنیه، کوچنیه، ستا خندا زما څومره ډېره خوښیږي!
- زما ډالۍ همدا ده...دا به داسې وي لکه د اوبو په اړه کیسه.
- دا څنګه؟
- هر انسان خپل ستوری لري. څوک چې مساپر شي نو هغوی ته لار

ورښیي. د نورو لپاره دا هسې کوچني څراغونه دي. د پوهانو لپاره لکه یوه قضیه ده چې باید حل یې کړي. زما د معامله ګر لپاره هغوی سره زر دي. خو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې ټولو خلکو لپاره هغوی بې ژبې دي. خو ستا به بېخي ځانګړي ستوري وي...

- دا څنګه؟
- کله چې ته د شپې له خوا هسک ته وګورې، نو هلته به هغه ستوری

وويني چې زه ژوند پکې کوم، چې زه پکې خاندم، او ته به دا واورې چې ټول ستوري خاندي. ته به داسې ستوري ولري چې خندا کولای شي !


دی پخپله هم په خندا شو.

- کله چې ته ډاډه شې، ته به پر دې خوښ شې چې تا زه يو مهال

پېژندلم. ته به تل زما ملګری يې. ستا زړه به غواړي چې له ما سره يو ځای وخاندې. ته به کله کله په دې ډول کړکۍ پرانيزې او دا به ستا لپاره ډېر د خوښۍ وړ وي... ستا ملګري او دوستان به دې ته هېښ شي چې ته هسک ته ګورې او خاندې. ته به هغوی ته وايې: «هو، هو، کله چې زه ستوريو ته ګورم نو تل خاندم !» هغوی به داسې فکر وکړي چې ته لېونی شوی يې. دغسې بده ټوکه به پر تا وکړم...

خو هغه بيا په خندا شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- لکه ما چې تا ته د ستوریو پر ځای ګڼ شمېر خندېدونکې زنګولې

د ډالۍ په توګه درکړې وي...

هغه بیا په خندا شو. وروسته بیا جدي شو.

- ښه به دا وي... چې ته نن شپه را نه شې.

زه تا نه خوشي کوم. تا ته به داسې ښکاره شي چې زما لپاره حالت دردمن دی. تا ته به ان داسې ښکاره شي چې زه مړ کېږم. داسې هم پېښېږي. مه راځه، ضرور نه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- زه تا یوازې نه پرېږدم.

خو هغه د کوم څه په اړه اندېښمن وو.

- وينې...دا د مار له لاسه. ښايي چې هغه تا ناڅاپه وچیچي...ماران خو

بد وي. هغوی چې هر څوک وچیچي پرې خوشالیږي.

- زه تا نه خوشي کوم.

دی ناڅاپه ارام شو:

- رښتیا خبره داده چې د هغه زهر د دوو کسانو لپاره بسنه نه کوي...

پر دغه شپه زه پوه نه شوم چې هغه څنګه رهي شو. دی بې له کومه شوره یا ځوږه ووت. کله چې زه ورپسې ورسېدم، نو دی ګړندی روان وو، هغه په پرېکنده توګه زړور ګامونه اخیستل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه یو ازې دو مره وویل:

- آ، دا ته یې...

زه یې له لاسه ونیولم. خو هغه د کوم شي په اړه اندېښمن وو.

- ته له ما سره هسې عبث روان یې. ما ته به ستا کتل ستا لپاره ډېر دردمن وي. تا ته به دا سې ښکاره شي لکه زه چې مړ کېږم، خو دا رښتیا نه ده...

زه چوپ په خوله وم.

- وینې...لار ډېره اوږده ده. زما بدن ډېر درونددی. زه ښايي ونه شم کولای چې تر منزله یې یوسم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه چوپ وم.

- دا داسې مانا لري لکه زوړ پوټکی چې وغورځول شي. په دې کې

کوم غمجن څه نشته...

زه چوپ وم.

هغه لږ څه روحیه له لاسه ورکړه. خو یو ځل بیا یې ځان بیدار کړ:

- ته پوهېږې چې ډېره به ښه وي. زه به هم ستوریو ته گورم. ټول ستوري

به کټ مټ د هغو زړو څاگانو په شان وي چې د وچ غږ لرونکي څرخونه لري.
هر ستوری به ماته دا شونتیا راکړي چې تنده ماته کړم...

زه چوپ وم.

- فکر ورته وکړه، څومره د ساتېرۍ وړ ده! ته به پېنځه سوه میلیونه

زنگولې ولرې او زه به پېنځه سوه میلیونه چینې...

پر دې مهال یې خبرې بس کړې، ځکه چې په ژړا شو...

- دا دی موږ راورسېدلو. اجازه راکړه چې زه په یوازې توگه یو بل

گام واخلم.

هغه پر شگه کېناست، ځکه چې دی ډېر وډار شو. وروسته یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ته پوهېږې...زما ګلاب...زه د هغه په وړاندې پازه لرم. خو هغه ډېر

کمزوری دی ! هغه ډېر سپېدلی دی. هغه یوازې څلور خوار اغزي لري، نور هېڅ داسې څه نه لري چې له نړۍ نه پرې د ځان ساتنه وکړي...

زه کېناستم ځکه چې پښې مې سستې شوې.

هغه وویل:

- بس خلاص...دا پای دی...

یوه دقیقه ځنډ یې نور هم وکړ او پاڅېد. یو ګام یې واخیست. ما نه شو کولای چې ځان وښوروم. داسې ښکارېده لکه د هغه پښو ته نږدې چې زېړه برېښنا وپړکیږي. هغه یوه شېبه بې حرکته وو. چیغه یې ونه کړه. وروسته د ونې په شان ورو ولوېد. دی ورو او بې غږه ولوېد. ځکه چې شګه ټول غږونه کموي او غلي کوي یې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اوویشتمه برخه

دا دی له هغه مهاله شپږ کاله تېر شول..ما په دې اړه تر اوسه هېچا ته کیسه نه ده کړې. کله چې زه راستون شوم، زما ملګري ډېر خوشاله شول چې زه یې روغ، رمټ او ژوندی ولیدم. زه خپه وم، خو ما هغوی ته داسې وویل:

- زه هسې ستړی شوی یم...

زه لږ ارام شوم او تسلي مې خپله کړه. خو په بسپړه توګه نه. زه پوهېدم چې هغه [کوچنی شاهزاده] خپل ګرزنده ستوري ته ستون شوی، ځکه کله چې رڼا شوه ما پر شګه د هغه بدن ونه لید. دومره دروند خو هم نه وو. د شپې له خوا

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما ډېر خوښېږي چې ستوريو ته غوږ ونيسم. لکه پېنځو سوو ميليونو زنګولو ته...

خو هېښنده دا ده، کله چې ما د وري لپاره کتپوز رسماوه، نو پړی مې هېر شو چې رسم کړی مې وای ! کوچنی شاهزاده نه شي کولای چې وري ته يې ورواغوندي. زه له خپل ځان نه داسې پوښتم: هلته د ده په ګرزنده ستوري کې به اوس څه پېښېږي؟ که وري ناڅاپه ګلاب خوړلی وي؟

خو کله کله ځان ته وايم: «نه، داسې نه ده ! کوچنی شاهزاده د شپې له خوا تل پر ګلاب باندې د ښيښې پوښ ږدي او وری ډېر ښه څاري...» په دغسې حالت کې زه نېکمرغه اوسم او ټول ستوري ورو ورو خاندي.


خو کله کله زه ځان ته داسې وايم: «کله کله سړی بې پامه او هېرجن هم وي... په دغسې حالت کې کېدای شي هر څه پېښ شي ! کېدای شي هغه کومه شپه پر ګلاب باندې د ښيښې پوښ کې نه ږدي او هېر يې شي، يا خو د شپې وری له پړي څخه خلاص شي...» هغه مهال به بيا ټولې زنګولې ژاړي...

دا ټول څه اسرامېزه او له عقله لري خبره ده. پر تاسو هم کوچنی شاهزاده همدغسې ګران شو، لکه پر ما. دا ټول څه بايد بې توپيره نه وي: ټوله نړۍ د سړي لپاره له دې لامله بل ډول کېږي چې د پينې (کايناتو) په کوم نامالوم ګوټ کې يو داسې وری شته چې موږ هېڅ مهال نه دی ليدلی، او کېدای شي هغه ګلاب يې خوړلی وي چې موږ ته نااشنا دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هسک ته وګورئ او له ځانه پوښتنه وکړئ: «ایا هغه ګلاب ژوندی دی او که نه؟ کېدای شي نابېره وري خوړلی وي؟» تاسې به ووینئ چې ټول څه به بل ډول شي...

له لویانو څخه به یو لوی هم هېڅ مهال پر دې پوه نه شي چې دا څومره مهمه ده !



زما په اند دا په نړۍ کې تر ټولو ښکلی او تر ټولو ډېر غمجن ځای دی. دا د دښتې هغه برخه ده چې په مخکیني مخ کې هم انځور شوې، خو ما یو ځل بیا هم انځور کړه، د دې لپاره چې تاسې یې ښه په ځیر سره وګورئ. کوچنی شاهزاده لومړی ځل همدغلته راپیدا او همدغلته له لیده پناه شو. ښه په ځیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورته وګورئ، د دې لپاره چې دا ځای هرو مرو ښه وپېژنئ، که چیري کوم مهال افریقا او دښتې ته راپېښ شئ، نو به درته مالوم وي. که چیري داسې پېښ شي چې تاسې پر دغه ځای تېرېږئ، زه درته زارۍ کوم چې بېړه مه کوئ. لږ تم شئ، او تر دغه ستوري لاندې لږ ځنډ وکړئ ! که چیري تاسې ته داسې کوچنی هلک راشي چې طلايي وېښتان ولري، که چیري هغه پر لوړ غږ وخاندي او ستاسو پوښتنو ته هېڅ ځواب در نه کړي، تاسې به اټکل وکړئ او پر دې به پوه شئ چې هغه څوک دی. بیا نو له تاسې ډېره هیله کوم ! هېر مو نه شي، زما غم له ما څخه لري کړئ، ماته تسلي راکړئ. ماته ژر تر ژره په لیک کې ولیکئ چې هغه راستون شو...

۱۹۴۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې ننبير ليکوال انتوان دي سينت اېکزوپيري (زوکړه د ۱۹۰۰ ز کال د جون ۲۹ ، پرانسه، ليون-مړينه د ۱۹۴۴ ز کال د جولای ۳۱ ).

(c) ketabton.com: The Digital Library



Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library